د افغانستان اسلامي امارت

عامي روغتيا وزارت

# روغتيا ملي تګلاره ۱۴۴۷-۱۴۵۱هـ ق

نیټه:جمادی الاول ۱۴۴۷

Year 2025 - 2030

بسم الله الرحمن الرحيم

**د عامې روغتیا وزیر  پیغام:**

الْحَمْدُ لِلّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ. أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِين، وَسَلَّمَ تَسْلِيمًا كَثِيرًا

يا أَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ ولتنظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ (سورة الحشر، آیه ۱۸)

ژباړه: ای مؤمنانو! له الله نه ووېرېږئ، او هر نفس دې، دې ته وګوري چې د سبا لپاره يې څه تیاری نیولی دی، او له الله نه ووېرېږئ، بېشکه الله په هغه څه چې تاسې يې کوئ، ښه پوه دی.

**درنو هېوادوالو!**

د خوشحالۍ ځای دی چې د روغتیا ملي پالیسۍ د تدوین پر تعقیب دا دی د روغتیا ملي تګلاره هم د روغتیا سکتور له ټولو ښکېلو لوریو، او شخصیتونو سره شریکوو، د روغتیا ملي تګلاره د الله تبارک و تعالی په فضل او د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله په ځانګړې پاملرنه په منسجم او منظم ډول تدوین شوه.

د عامې روغتیا وزارت؛ روغتیا د افغانانو له لومړنیو او بنسټیزو حقونو څخه ګڼي او په همدې اساس د روغتیايي سکتور په وړاندې یو جدي، مسئولانه او ژمن تعامل لري. د دې مسئولانه دریځ تر شا، د افغانستان روغتیايي واقعیتونو ترڅنګ، د اسلامي شریعت مقاصد هم بنسټیز ارزښت لري. له همدې امله د افغانستان اسلامي امارت د روغتیايي سکتور په برخه کې اسلامي او ملي دواړه مسئولیتونه پر غاړه لري.

د افغانستان اسلامي امارت د افغانانو روغتیا ته د خپلې ژمنتیا د عملي کولو لپاره دا اړینه ګڼي چې د هېواد د روغتیايي وضعیت، موجودو ننګونو او راتلونکو اړتیاوو په رڼا کې یوه جامع او د تطبیق وړ ملي روغتیايي تګلاره ولري. د دې تګلارې پر بنسټ به د روغتیايي حکومتولۍ او رهبرۍ بنسټونه پیاوړي شي؛ افغانان به عادلانه، باکیفیته او معیاري روغتیايي خدمتونو ته د وړ روغتیايي کارکوونکو له لارې لاسرسی وموميي؛ د دې تګلارې اساسي موخه دا ده چې روغتیايي خدمتونو ته عادلانه او اغېزمن لاسرسی یقیني شي، د خدمتونو کیفیت معیاري شي او د روغتیا په برخه کې موجود ظرفیتونه وسائل شي او پیاوړي کړل شي.

دا تګلاره زموږ د ژمنتیا څرګندونه کوي؛ د دې تګلارې د پلي کېدو له لارې به خلکو ته په بنیادي ډول د اړتیا وړ روغتیايي خدمتونه وړاندې شي. په پای کې له ټولو هغو رهبري، تخنیکي او فرعي کمېټو مننه کوم چې په خپلو لارښودو، علمي او تخنیکي هڅو او بوختیاو يې د روغتیا ملي تګلاره په بریې سره تدوین او نوې کړه.

د اسلامي شریعت په سیوري کې د یو پیاوړي، عادلانه او پر ځان بسیا روغتیايي نظام په هیله.

**والسلام**

**الحاج مولوي نور جلال جلالي**

**دعامې روغتیا وزیر**

**د پالیسي او روغتیا پراختیا مرستیال پیغام:**

اعوذ بالله من الشیطان الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم؛ ( لا حول و لا قوه الا بالله العلی العظیم، نحمده و نستعینه، نستغفره و نشکره و نتوکل علیه و نصلّی و نسلّم ، سیدنا و نبیّنا ابی القاسم محمّد، و علی آله الطیبین الطاهرین، بقیة الله فی الارضین.)

**قال الله تعلی وتبارک** : وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ؛[المائدة : ۲]

ژباړه: په ښېګړې او تقوی کې یو د بل مرسته وکړئ، په ګناه او تېرې کې یو د بل مرسته مه کوئ.

خوښ یم چې د روغتیا ملي تګلارې سند د روغتیا او طب له ټولو ښکېلو کارکوونکو سره شریکوم. دا تګلاره د اسلامي ارزښتونو او د عامې روغتیا ملي پالیسی په رڼا کې ترتیب شوې ده، د دې تګلارې اساسي موخه دا ده چې د روغتیا ملي پالیسی د تطبیق لپاره یو جامع ملي چوکاټ رامنځته کړي. دغه تګلاره د افغانستان اوسني روغتیایي وضعیت، ننګونو او راتلونکو ضرورتونو ته ښه ځواب ویونکې ده، دا تګلاره د پالیسی او اجراء تر منځ د یو پُل نقش لري، او د هېواد روغتیایي نظام ته روښانه ستراتیژیک لوری ورکوي.

دا تګلاره د پخوانیو ملي تګلارو تشې بشپړوي، تکراروونه له منځه وړي او د حکومتولۍ او رهبرۍ بنسټونه پیاوړي کوي. سند داسې ترتیب شوی چې د تطبیق لپاره پېچلی نه دی، بلکې عملي کېدونکی دی او پایلې یې د اندازه کېدو وړ دي.

د روغتیا ملي تګلاره یو لړ اجرایوي لومړیتوبونه لري: د روغتیا اړوند حکومتولۍ او رهبرۍ اجرایوي اړخ پیاوړتیا؛ د کارکوونکو چارو په برخه کې ظرفیت لوړونه، د مالي تمویل په برخه کې مؤثریت او شفافیت؛ د روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړونه او ورته عادلانه لاسرسی؛ د روغتیایي معلوماتو سیستم پیاوړتیا، پر وخت او بشپړه راپور ورکونه، د عامې روغتیا وزارت او تطبیقوونکو تر منځ د معلوماتي همغږتیا او د شواهدو پر بنسټ پرېکړې؛ او بالاخره له روغتیایي شریکانو او تمویلوونکو سره پیاوړې همغږي او روښانه ګډ مسئولیتونه.

**په درنښت**

**الحاج ډاکټر محمد حسن غیاثي**

**د پالیسي او روغتیایي پراختیا مرستیال**

**د پالیسي او پلان لوی رئیس پیغام:**

د افغانستان اسلامي امارت د عامې روغتیا قدرمن وزیر صاحب، د پالیسۍ او روغتیایي پراختیا محترم معین صاحب، د رهبرۍ، تخنیکي او فرعي کمېټو غړو، درنو همکارانو او لوستونکو!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د پالیسۍ او پلان عمومي ریاست د عامې روغتیا وزارت په چوکاټ کې د روغتیایي کړنلارو، تګلارو او اوږدمهالو پلانونو د طرحې، نوي کولو او انسجام مسلکي مسؤلیت پر غاړه لري. د روغتیا ملي تګلاره د همدې مسؤلیت له مخې، د علمي او تخنیکي اصولو په رڼا کې تدوین او تر بشپړېدو وروسته د تصویب په موخه د عامې روغتیا وزارت محترم مقام ته وړاندې شوه.

د دې تګلارې د تدوین لپاره درې ګونې "رهبري، تخنیکي او فرعي" کمېټې وټاکل شوې. رهبري کمېټې د اسلامي ارزښتونو او د روغتیا ملي پالیسۍ په رڼا کې د تګلارې عمومي لورى، لومړیتوبونه او څارنه پر مخ یوړه. تخنیکي کمېټو د شواهدو، روغتیايي معلوماتو او علمي تحلیل پر بنسټ د تګلارې محتوا، اهداف، مقصدونه، ستراتېژیکې مداخلې، شاخصونه او د نظارت او ارزونې میکانیزمونه تعریف کړل. فرعي کمېټو بیا په خپلو اړوندو محوري برخو کې تخصصي او تخنیکي کارونه ترسره کړل.

په دې بهیر کې د عامې روغتیا وزارت مسلکي کادرونو او ملي او نړیوالو روغتیایي شریکانو فعاله ونډه درلوده.

نوموړې تګلاره یو روښانه تطبیقي چوکاټ لري چې اته محوري ساحې رانغاړي. د هرې ساحې لپاره مشخص هدفونه، مقصدونه او ستراتیژیکې مداخلې تعریف شوې دي.

د تګلارې د مالي تداوم لپاره، د تمویلوونکو د مرستو تر څنګ پر ملي سرچینو او د اسلامي امارت پر ونډې زیات تمرکز شوی دی. د مالي سرچینو مؤثریت، شفافیت او د همغږۍ پیاوړتیا د دې تګلارې مهم اصول دي.

د روغتیا ملي تګلاره به د یوه ژوندي سند په توګه له اړتیا سره سم بیاکتل کېږي، څو د هېواد له روغتیايي واقعیتونو، نویو ننګونو او فرصتونو سره همغږې پاتې شي.

په پای کې د عامې روغتیا محترم وزیر صاحب مولوي نور جلال جلالي څخه د صمیمانه مننې څرګندونه کوم، چې په مدبرانه او ارزښتناکه رهبرۍ یې د دې بهیر ملاتړ وکړ. د پالیسۍ او روغتیایي پراختیا محترم معین ډاکټر صاحب محمد حسن غیاثي څخه هم ډېره مننه چې پرله پسې یې د دې بهیر مشري، څارنه او تخنیکي ملاتړ وکړ، همدارنګه د رهبرۍ، تخنیکي او فرعي کمېټو غړو او د پلان او پالیسۍ د عمومي ریاست له ټولو تخنیکي همکارانو څخه مننه کوم، چې د دې ملي تګلارې په تدوین کې یې فعاله او ارزښتناکه ونډه واخیسته.

**په درنښت**

**الحاج ډاکټر سید رسول منګل**

**د پلان او پالیسي عمومي رئیس**

## لړلیک


1 د وزير صيب پيغام:........................................ب

2 د معين صيب پيغام:........................................ج

3 د پالیسی او پلان لوی ریس پیغام:........................................د

2 مقدمه ........................................3

2.1 د عامې روغتيا وزارت پېژندنه ........................................3

2.2 د هېواد روغتيايی سيستم لنډه معرفي ........................................3

2.3 د تګلاې د انکشاف ضرورت ........................................5

3 لرليد، ماموريت، موخې او بنسټيز ارزښتونه ........................................6

3.1 لرليد :........................................6

3.2 مأموريت:........................................6

3.3 موخې:........................................6

3.4 بنسټيز ارزښتونه:........................................7

4 فعلي وضعيت تحليل ........................................8

4.1 د روغتيايي سيستم حالت :........................................8

4.2 انساني او مالي سرچينې: ........................................10

4.3 د روغتيا وزارت تشکيلاتي ارګانوګرام:........................................12

5 د روغتیایي محیط تحلیل ........................................13

5.1 د روغتيايي سيستم د قوتونو، کمزوريو، فرصتونو او تهديديونو تحليل (SWOT) ........................................13

5.2 وبايات (اپيديميولوژي) او د وګړيزو (ډېموګرافيکو) بدلونونو او ناروغيو بار........................................15

5.3 د کليدي روغتيايي شاخصونو حالت: ........................................15

5.4 د عامې روغتيا وزارت، ملي او بين المللي شريکانو او خصوصي سکتور نقش........................................16

خصوصي سکتور ونډه:........................................18

6 تطبيقي چوکاټ ........................................18

6.1 حکومتولي او رهبري:........................................18

6.2 کارکوونکو چارې:........................................22

6.3 د روغتيا مالي تمويل:........................................26

6.4 د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول: ........................................30

6.4.1 د وقایوي او ارتقایي روغتیایی خدمتونو وړاندې کول: ........................................ 30
6.4.2 دمعالجوي خدمتونو وړاندې کول :............................................................36
6.5 خواړه، درمل او روغتیايي محصولات ....................................................40
6.6 روغتیایي معلوماتو سیستم .................................................................43
6.7 د مالي تمو يلوونکو اوکاري شریکانو ښکېلتیا ..............................................46
7 دروغتیایي تګلارې تمویل او سرچینې ...........................................................51
7.1 د اغیزمنتیا او حساب ورکونې میکانیزمونه ....................................................51
7.2 له تمويلوونکو بنسټونو سره همکاري...........................................................51
7.3 د پلي کولو په وړاندې احتمالي خطرونه.........................................................53
8 نظارت او ارزيابي ...............................................................................55
8.1 دپایلو دڅارنې او اروزنې چوکاټ...................................................................55
8.2 د تګلارې بیا کتنې میکانیزم.........................................................................68
9 ضمیمې:..............................................................................................68
9.1 د روغتیایي سیستم نقشه ..................................................................68
9.2 ستراتيژيک پلان:...... ......................................................................70
9.3 د روغتیا وزارت تشکیلاتي ارګانوګرام .........................................................71
9.4 *دتګلارې دتدوین کمیتوبشپړ نوملړ: ...........................................................75

# 1 اجرايوي خلاصه

روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی د انساني ټولنو د ښه او معياري ژوند له شاخصونو څخه شميرل کېږي.

د معياري روغتيايي خدمتونو او روغتيايي سيستم پراختيا او انکشاف د هېوادونو د پرمختګ له مهمو عواملو څخه ګڼل کېږي، ځکه دا د خدمتونو په وړاندې کولو کې د هېوادونو موقعيت او رول څرګندوي. په همدې اساس، روغتيا، امنيت او غذايي مصؤنيت د روغتيايي سکتور له بنسټيزو برخو څخه دي، چې کافي، مغذي خوړو او سالمې روغتيا ته پر لاسرسي ټينګار کوي. د عامې روغتيا مشرتابه د لاربښوونې له مخې، او د خلکو د روغتيايي وضعيت په پام کې نيولو سره، د پنځو کلونو (۱۴۴۷ – ۱۴۵۱ هـ ق) لپاره د روغتيا ملي تګلاره او (۱۴۴۶- ۱۴۵۱ هـ ق)لپاره ملي پاليسي جوړه شوې ده.

د ناروغيو د سير، بڼې او بار د بدلېدو او د اوسني وخت له اړتياو سره سم ځواب وينې په خاطر په ځانګړي ډول د لومړنيو، دويمو او دريمو کچو روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د روغتيا ملي تګلارې جوړول يوه مهمه او ضروري چاره وه، چې بايد جدي پاملرنه ورته شوې وای.

په تېرو څلورو کلونو کې د ګڼو عواملو له امله د تيرو کلونو په پرتله د مړينې کچه راټيټه شوې او روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی د پام وړ ښه شوی دی. د ملي پاليسۍ ( ۱۴۴۶ – ۱۴۴۵۱) له مخې، اوس مهال ډېری افغانان د روغتيايي مرکزونو څخه په مناسبه فاصله کې ژوند کوي. همدارنګه، د بنسټيزو روغتيايي خدمتونو او روغتوني خدمتونو په وړاندې کولو کې د ولايتونو د عامې روغتيا رياستونو او روغتيايي مرکزونو ونډې ته پراختيا ورکړل شوې ده.

دا تګلاره د افغانستان د خلکو د روغتيايي اړتياوو او د روغتيايي سيستم د اصلاحاتو په اړه د عامې روغتيا وزارت ليدلوری او دريځ څرګندوي، او دا روښانه کوي چې د هېواد ټول وګړي بايد لوړ کيفيت لرونکو بنسټيزو روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ولري، د هېواد روغتيايي ستونزو او اړتياوو ته په وخت د رسېدنې په موخه، اسلامي امارت د افغانستان روغتيا سکتور د انکشاف لپاره لاندې موارد د خپلو اساسي لومړيتوبونو په توګه ټاکلي دي:

- **د روغتيايي زيربناوو پراختيا او د کيفيت لوړوالی؛**
- **د روغتيايي خدمتونو پراخول او د روغتيايي مرکزونو تجهيز؛**
- **د روغتيايي کارکوونکو ظرفيت لوړونه؛**
- **د درملو او غذايي محصولاتو د کيفيت ښه والی؛**
- **د سرچينو متوازن تخصيص او عادلانه ويش، په ځانګړي ډول لرې پرتو او محرومو سيمو ته؛**

- **د ساري ناروغیو د خپرېدو مخنیوی؛**
- **د تخصصي روزنې پروګرامونو معیاري کول؛**
- **لابراتوارونو ته اعتبار ورکول؛**
- **او د ټول هېواد په کچه د کورنیو او رواني مشورو مرکزونو جوړول.**

یادې شوې موخې د اسلامي امارت د روغتیا سکتور د پرمختیایي تګلارې له بنسټیزو لومړیتوبونو څخه دي، څو د هېواد هر وګړی د سالم، معیاري او باکیفیته روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شي.

همدارنګه دا تګلاره د ټولنی خلکو او د روغتیا سره تړلو مهمو ټولنیزو لاملونو پېژندلو ته ځانګړې پاملرنه کوي. دا تګلاره د عامې روغتیا وزارت لهخوا د یوه پراخ مشارکتي بهیر له لارې، د نړیوالو شریکانو، تطبیقوونکو مؤسسو او نورو ښکیلو ادارو په همکارۍ جوړه شوې ده. په دې تګلارې کې لاندې اوه بنسټیزې برخې شاملې دي:

1. **د حکومتولی او رهبري برخه،**
2. **د کارکوونکو برخه،**
3. **د روغتیا سکتور د تمویل برخه،**
4. **د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو برخه (وقایوي او معالجوي خدمتونه)،**
5. **د خوړو، درملو او روغتیایي محصولاتو برخه،**
6. **د روغتیایي معلوماتو برخه، او**
7. **د مالي تمویلوونکو او کاري شریکانو د ونډې برخه.**

د هرې برخې لپاره ستراتیژیکه موخه، دلاس ته راوړلو لپاره مشخص مقاصد او د پلي کیدو وړ مداخلوي ستراتیژیانې تعریف شوي دي. د دې تګلارې د پلي کولو په پایله کې به، د عامې روغتیا وزارت او ولایتي ریاستونو د مسؤلینو ظرفیتونه د بنسټیز بدلون له لارې پیاوړي شي. د اسلامي شریعت د احکامو رعایت، د اصولو حاکمیت، د انساني حقونو درناوی او د عادلانه اصولو تطبیق به د روغتیایي سیستم په ټولو کچو کې بنسټیز شي. همدارنګه، د وزارتونو، امارتي ادارو او نړیوالو پرمختیایي شریکانو ترمنځ به همکاري لا نوره پیاوړې او دوامداره شي. د روغتیایي خدمتونو د کیفیت او خوندیتوب د تضمین لپاره به د داخلي څارنې او ارزونې ظرفیتونه هم ښه شي. د افغانستان پرمختیایي تګلاره(۱۴۰۵-۱۴۰۹ هـ.ش).

د روغتیا ملي تګلاره **د افغانستان د پرمختیایي تګلارې (۱۴۰۵-۱۴۰۹ هـ.ش)** سره په بشپړه همغږۍ او مطابقت کې چمتو شوې ده. لکه څنګه چې «ښه حکومتولي» **د ملي پرمختیایي تګلارې** بنسټیز رکن ګڼل کېږي، په روغتیا

ملي  تګلارې کې هم د لومړنۍ ستراتيژيکي ساحې په توګه وړانديز شوې او پوره تمرکز او ټينګار پرې شوی دی. دا چاره د دواړو سندونو ترمنځ د نږدې همغږۍ او ستر اهميت څرګندونه کوي.

د کارکوونکو؛ تربيه د وړتياو اوظرفيتونو وده او پرمختګ به د ټولنې د روغتيايي اړتياوو او د ناروغيو د حالت له مخې طرحه کېږي، څو د خلکو اړتياوو ته اغېزمن ځواب ووايي. اړوندې زده کړې؛ که له دندې وړاندې وي او که د دندې په ترڅ کې، به د وړتيا پر بنسټ او کيفيت محوره وي، څو د روغتيايي خدمتونو په وړاندې کولو کې نړيوالو معيارونو ته رسېدل يقيني شي.

د ساري او غير ساري ناروغيو مخنيوی،کنټرول او بالخصوص د ماشومانو د ګوزڼ ناروغي له منځه وړل د دې تګلارې له مهمو موخو څخه ده. د مختلفو سکټورونو اړوندو کړنو له لارې به د عامې روغتيا وزارت اساسي لومړيتوبونه ارزول کېږي؛ ناورينونو، بيړنيو او لويو پېښو ته د غبرګون وړتيا به پياوړې کېږي. د دې تګلارې تمرکز به په ټولو خلکو باندې يو رنګه وي، نه يوازې هغو کسانو ته چې د ځانګړو ناروغيو پر و ړاندې زيانمن دي بلکې د روغتيايي لاملونو کنټرول لپاره د خلکو ټولنيز پوهاوي لوړوي او د وګړو او ټولنې په کچه  به د روغتيايي شريکانو کړنې هم همغږې کوي.

# 2  مقدمه

## 2.1  د عامې روغتيا وزارت پېژندنه

عامې روغتيا وزارت  په هېواد کې دروغتيايي خدمتونو وړاندې کولو اصلي مالک او رهبري کوونکی  دی، چې د روغتيايي پاليسيو د تدوين او انکشاف مسئوليت هم لري. د پورته دندو د پلي کيدو په موخه د عامې روغتيا وزارت د خپلو مرکزي او ولايتي دفترونو او همکارو تطبيقوونکو ادارو  له لارې مؤثرو، مثمرو او پايښت لرونکو روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي په موخه نه ستړې کيدونکې هلې ځلې کوي.

## 2.2  د هېواد روغتيايی سيستم لنډه معرفي

په تيرو کلونو کې د افغانستان روغتيايي نظام، يو لړ اصلاحات راوستل، چې په تيرو دوه لسيزو کې د روغتيايي خدمتونو د چټک پرمختګ سبب وګرځيدل. دغه پرمختګونه؛ ١) د روغتيايي سيستم په حکومتولی کې  اصلاحات ، ٢) د هيواد په کچه د روغتيايي پوښښ زياتوالی؛ چې تر ډېره حده يې په نفوس کې روغتيايي نتايج ښه کړل. ٣) عامې روغتيا وزارت د مالکيت تقويت، ۴) د ملي روغتيايي پاليسی او تګلارې جوړول، ۵):  په لومړنيو روغتيايي خدمتونو کې د بين المللي شريکانو پانګونه  ٦) د بنسټيزو روغتيايي خدمتونو ټولګې معرفي کول (په ٢٠٠٣کال معرفي

شوه او په ۲۰۰۵ او ۲۰۱۰ کلونو کې یې تجدید ترسره شو)، او په ۲۰۰۵ کال کې د روغتوني خدمتونو بنسټیزې ټولګې ( EPHS) معرفي، دغو برياو ته درسیدو له مهمو لاسته راوړنو ګڼل کیږئ.
کله چې عامې روغتیا وزارت د بنسټیزو روغتیایی خدمتونو ټولګه (BPHS) رامنځته کړه، په تعقیب یې غیر دولتي مؤسسو ته د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو د قرارداد ورکولو میکانیزم (Contract out Mechanism) هم معرفي کړ. چې اوس لپاره د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو اساسي بیلګه بلل کیږي، د دې میکانیزم د معرفي کېدو یو مهم دلیل دا و چې د عامې روغتیا وزارت ته اجازه ورکړي چې په خپلې ظرفیت جوړونې، د مالکیت په تقویت او د هغې پر اړونده دندو تمرکز وکړي.

دا دواړه ټولګې (BPHS& EPHS) چې باید په هرو ۳-۴ کلونو کې بیا کتنه او نوې شوې وای، مګر له ۲۰۱۰ کال راهیسې نه دې نوې شوې، له نیکه مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره د روغتیا په برخه کې د موجودو ستونزو، ناروغیو پیښې، او جغرافیوي موقعت ته په کتو او د ټولنې عیني واقعیتونو په نظرکې نیولو سره د نوموړو ټولګو بیا کتنه او نوې کول پیل شوي دي، چې په نږدې راتلونکي کې به یې د تدوین او تجدید پروسه تکمیل شي.

دا چې په نویو روغتیایي ټولګو کې هڅه شوې ده څو د لږ لګښت په بدل کې دتطبیق وړ، اغېزمن ، موثر، مثمر، لوړ کیفیت لرونکي او معیاري روغتیایي خدمتونه تنظیم او وړاندې شي، تمه ده چې په راتلونکي کې به د افغانستان اسلامي امارت وکولای شي پرته له بهرنیو مرسته‌کوونکو، یوازې د خپلې داخلي بودیجې له لارې دا روغتیایي خدمتونه په دوامداره توګه فعال او پیاوړي وساتي.

په دې نوې کځورې کې به د ټولو روغتیایي کچو خدمتونه د ادغام په ډول شامل وې؛ ممکن د روغتیایي خدمتونو وړاندې کوونکې کچې (قدمې) بالخصوص د (BPHS) په سطحه له اوسني حالت را کمې کړی شي.

په دی باور چې په دې ټولو کچو کې به روغتیایي خدمتونه په عادلانه، همغږي او یو موټي ډول په مدغم شکل وړاندې شي، تر څو ټول هېوادوال د خپلو ټولنیزو اړتیاوو، جغرافیایي موقعیت او شته ستونزو په نظر کې نیولو سره متوازنو روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ولري. دا به د روغتیایي سیستم د همغږی، اغېزمنتیا او دوامدار پرمختګ یوه روښانه بېلګه وي.

د اسلامي امارت عامې روغتیا وزارت ته د موثره، ښه کیفیت، عادلانه، پایښت لرونکو او ټول نفوس ته د لاسرسي وړ خدمتونو وړاندې کول له مهمو لمړیتوبونو څخه ګڼل کیږې، چی په دې برخه کې د ټول هیواد په کچه د ۳۳۰ عمومي روغتونونو (General Hospitals) جوړولو تعهد او اجرآت یې ښه بیلګه ګڼلی شو.

د عامې روغتیا ولایتي رئیسان (PPHDs) په ولایتي کچه  د روغتیا وزات نمایندګي کوي او هم په ولایتي کچه د غیر دولتي مؤسسو د ټولو روغتیایي فعالیتونو د رهبرۍ، مالکیت، همغږۍ اوڅارنې مسولیت لري.

## 2.3   د تګلاې د انکشاف ضرورت

د روغتیا ملي ستراټیژۍ جوړولو د ډیرو مهمو عواملو او فکټورونو څخه یو شمېر په لاندې ډول دي:

- د روغتیا ملي پالیسۍ د موخو ښه تطبیق؛
- د روغتیا برخه کې د افغانستان پراختیایي تګلارو موخو  ته رسیدل او پلي کول؛
- د روغتیا په برخه کې شته ستونزو، د ناروغیو بار او چاپیریالي تغیراتو ته عملي ځواب ویل؛
- د ملي او نړیوالو شریکانو سره د ښې همغږۍ را منځ ته کول؛
- عامې روغتیا وزارت او ملي او بین المللي ادارو  ته تعریف شوی روغتیایي مسیر ټاکل؛
- د روڼتیا، معیاریتوب، ځواب ویلو او مسولیت احساس رامنځ ته کول؛
- او په ټوله کې د اسلامې امارت پالیسیو سره د روغتیا سکټور همغږی کول؛

همدارنګه د عامې روغتیا وزارت  او اسلامي امارت ته په عمومي  ډول مهمه ده، چې خپلو خلکو ته د ښې روغتیا په موخه د ښه کیفیت، پایښت لرونکي او معیاري روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي، نو اړتیا وه چې یوه پراخه ملي ستراتیژي ولرو، چې عموما په درې مرحلو ( امادګي، همغږۍ او نهایي مرحلو) کې جوړه شوه.

# 3 لرلید، ماموریت، موخې او بنستیز ارزښتونه

## 3.1 لرلید :

د افغانستان ټول اوسیدونکي به په هیواد کې دننه په ملي او نړیوالو روغتیایي معیارونو برابر، د لاسرسي وړ، دوامداره او له پیرونځواک سره سم د روغتیایي خدمتونو او توکو څخه برخمن وي او په روغتیا سمباله ټولنه به ولري

## 3.2 مأموریت:

وزارت د روغتیا ښه کولو، ناروغیو او مړینو کمولو، روغتیایي خدمتونو ته د د افغانستان عامې روغتیا لاسرسي زیاتولو او د ټولو افغانانو هوساینې په موخه روغتیایي ژوند طرز ته د ودې ورکولو مسئولیت لري، او د ملي روغتیایي لومړیتوبونو په رڼا کې د پایښت لرونکو پراختیایي موخو ترلاسه کولو او د کورنیو لخوا د لوړو روغتیایي لګښتونو د کمولو لپاره ګامونه اخلي. یادې موخې د سیاسي ارادې، پیاوړې رهبرۍ او ښې حکومتولۍ تر چتر لاندې د روغتیایي سکتور له ښکیلو لوروسره د همکارۍ او د سرچینو ګټور مدیر یت له لارې تحقق مومي.

## 3.3 موخې:

- د هیواد ټولو و ګړو ته په مناسبه او ارزانه توګه د کیفیت لرونکو روغتیایي خدمتونو برابرول.
- د خوړو، درملو، روغتیایي محصولاتو، او روغتیایي حقونو تأمینول.
- د فقر کمول، د ورکړې وړ، عادلانه او مساوي لاسرسی چمتو کول.
- د پایښت لرونکي روغتیایي سیستم پیاوړتیا، چې په هیواد کې د روغتیا او تغذې وضعیت د ښه والي لامل و ګرځي.

## 3.4 بنسټيز ارزښتونه

**عدالت:** هر افغان ته د روغتيايي خدمتونو په وړاندې کولو سره د هغوی روغتيايي اړتياوو ته له ځواب وينې څخه ډاډمنېدل.

**ريښتينولي:** په ريښتينولۍ او مخلصانه توګه کارکول.

**طبي اخلاق:** د طبي اخلاقو، ټولنيزو حقونو او مساواتو اصلي ارزښتونو ته درناوی کول.

**وقار او درناوی:** له جنسي، سني، مذهبي، ټولنيز- اقتصادي او سياسي توپير پرته هر چاته ارزښت ورکول او د هر چا وقار او درناوی کول.

**مؤثر يت او مثمر يت:** د ټاکل شـــوو موخو له لاســـته راوړلو څخه ډاډ ترلاســـه کول او همدارنګه د کمو سرچينو په کاروني سره يادو موخو ته رسيدل.

**کيفيت:** ډاډ ترلاسه کول، چې هر افغان ته معياري روغتيايي خدمتونه، خواړه، درمل او نور روغتيايي توکي په سمه توګه و ړاندې کيږي چې د هغوی روغتيايي اړتياوو ته ځواب ويونکي وي.

**ناروغ محوره خدمتونه:** روغتيايي کارکوونکي بايد ناروغ او د هغه د کورنۍ ته وقار او درناوی ولري، ناروغ له هر څه خبر او اړينه لار ښـــوونه ورته وکړي، هغه سره مرســـته وکړي او هغه د درملنې په هکله په ټولو پريکړو کې ښـــکېل کړي.

**ځواب ويونکي خدمتونه:** باور لرو چې په هيواد کې دننه د ټولو تخصصي اوفوق تخصصي خدمتونو په و ړاندې کولو سره به روغتيا وده ومومي او په ټولنه کې به د مړينې او فقر کمولو په لور يو مثبت ګام وي.

**پايښت:** باوري يو چې د هيواد روغتيايي سيستم بايد د مالي او زيربنا له پلوه پايښت لرونکی وي تر څو د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو په اړه د ټولنې اړتيا ته ځواب ووايي.

**حساب ورکونه:** باور لرو چې د روغتيايي سيستم په اړه بايد ګټه اخيستونکو سره معلومات شريک شي او د سيستم موخو ته د رسيدو لپاره ځان د پايلو مسؤول وګڼو .

**روڼتيا:** د روغتيايي برنامو او بودجې اړوند معلوماتو شتون او هر چا ته يې لاسرسی شوني کول او د روغتيايي ستونزو اړوند تصميم نيول. د ځينو پروسو لپاره ځانګړي معيارونه په نښه او پلټنه يې کول لکه د وړانديز غو ښتنې( RFP) په وسيله لومړۍ د قرارداديانو غوره کول.

**همغږي او همکاري:** د روغتيايي سيســتم کاري شريکانو په همغږۍ او مرسـته د کيفيت لرونکو خدمتونو له وړاندې کولو ډاډ ترلاسه کول او غوره کاري فرصتونه رامنځته کول.

**د شواهدو پر بنسټ پريکړه:** د پاليسيو، برنامو، پروژو او کړنو په هکله بايد پر يکړې د شواهدو(څېړنو، سروې ګانو، معلوماتي سيستمونو، تجربو او مشاهدو) له مخې وشي چې دا به موږ سره مرسته وکړي، چې چارې مؤثرې شي، د پام وړ خلکو ته خدمتونه ورسېږي او کړنې له شته سرچينو سره سمون ولري .

**د ورکړې وړ بيه:** باور لرو چې د خدمتونو وړاندې کول بايد د ورکړې وړ بيه ولري، ترڅو د سيستم ادامه د هيواد له واقعيتونو او د سيستم پايښت سره سمون ولري.

**نوښتونه:** باور لرو چې نوښتونه زموږ د راتلونکې برېيا لامل ګرځي او د روغتيايي خدمتونو د کيفيت ښه کولو لپاره د نويو نظرونو، ميتودونو او اختراعګانو ورپيژندل ارزښتمن دي .

**ټولګډونوالی او بې توپيرتيا:** ټولو وګړو ته له هر ډول توپير پرته د هغوی له اړتيا سره سم روغتيايي خدمتونه وړاندې کول.

**ژمنتيا او مسلکيتوب:** کو ښښ کوو، چې خلکو ته په غوره توګه روغتيايي خدمتونه وړاندې کړو او تر ټولو ژمن، وړ او تجربه لرونکي کار کوونکي ولټوو او وګمارو.

**د منلو او عملي کېدو وړ:** ژمن يو چې د خدمتونو وړاندې کول بايد خلکو ته د منلو وړ او عملي کيدونکي وي، د ټولنې له کلتور، ارزښتونو او مذهب سره سمون ولري او له سياسی مداخلو پاک وي.

**د پايلو پر بنسټ سيستم:** باور لرو چې د روغتيايي مداخلو متوقع پايلې بايد په منظمه توګه اندازه شي ترڅو وروستی پايلې ترلاسه شي.

# 4 فعلي وضعيت تحليل

## 4.1 د روغتيايي سيستم حالت :

د عامې روغتيا سکټور د اسلامي امارت له مهمو، اړينو او حياتي سکټورونو څخه ګڼل کېږي. د دې سکټور اصلي مسؤليت دا دی چې خلکو ته متوازن، عادلانه، باکيفيته او د عامه لاسرسي وړ روغتيايي خدمتونه وړاندې کړي. همدارنګه د ناروغيو ځانګړتياوې او زيانمنې ډلې په پام کې ونيسي– او په ځانګړي ډول هغو سيمو ته روغتيايي خدمتونه برابر کړي چې روغتيايي خدمتونو ته لاسرسي يې ستونزمن او د مسلکي او متخصصو کارکوونکو له کمښت سره مخ دي.

سربېره پر دې، د روغتيايي قوانينو د پلي کوونکو ادارو د دندو تنظيمول، لکه د خوړو او درملو معينيت، طبي شورا او د نرسانو او قابلو آمريتونه. د تخصصي او ثالثي روغتونونو جوړول، او د ولسواليو په کچه د عمومي روغتونونو (GHs) رامنځته کول هم د عامې روغتيا وزارت له مهمو دندو څخه دي. همدارنګه په يو شمېر روغتونونو کې د فوق تخصصي خدمتونو پيل، د تخصص د بشپړولو پروګرامونو عملي کول، او د تخنيکي، اکاډميک، نظارتي او انکشافي چارو په برخه کې د مسلکي او حمايوي کارکوونکو د ورتياوو او مهارتونو د لوړولو لپاره د لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله روزنيزو پروګرامونو پلي کول د روغتيا وزارت له مهمو لاسته راوړنو او پرمختګونو څخه ګڼل کېږي.

په دې لاسته راوړنو کې د زړه د ناروغيو د درملنې او جراحی امکانات، پرمختللي اورتوپيديک خدمتونه، د اعصابو جراحي، د سرطاني ناروغيو تشخيص او درملنه، او په نورو روغتيايي برخو کې پرمختګونه هم شامل دي.

په عمومي ډول، د عامي روغتيا وزارت د افغانسـتان خلکو ته د لومړني، دوهمي او درېيمي کچې روغتيايي خدمتونه په وړيا توګه وړاندې کوي. دغه خدمتونه د هېواد په کچه د [1](۴۵۸۲) روغتيايي مرکزونو له لارې وړاندې کېږي. په دې مرکزونو کې ګرځنده روغتيايي او تغذيوي ټيمونه، روغتيايي ځالې، فرعي، بنسـټيز او بشـپړ روغتيايي مرکزونه شامل دي. همدارنګه د ولسواليو، ولايتي، حوزوي، تخصصي او ملي روغتونونه او [2](۱۶۳۰۶) روغتيايي پوستې هم شاملې دي چې د ټولنې په کچه لومړني روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي.

په لاندې ګرافونو کې، په لنډ ډول د هېواد په کچه روغتيايي مرکزونه د شـمېر او ډول له مخې ښـودل شـوي دي:

د هېواد په کچه د لومړنيو روغتيايي مرکزونو دشمېر او نوعيت ګراف[3]:




دهيواد په کچه  دروغتونونو دشمير او نوعيت ګراف:




[1] HMIS, 2025

[2] HMIS, 2025

[3] (Source: MOPH HMIS, 2025)

په منځنۍ کچه د هرو لسو زرو (۱۰۰۰۰) کسانو لپاره یو اعشاریه پنځه لس (۱،۱۵) لومړني روغتیایي مرکزونه او د هرو لسو زرو (۱۰۰۰۰) کسانو لپاره (0,045) روغتون شتون لري. د نفوس لپاره د زیربناوو نوموړي شمېرې د سیمې په کچه تر ټولو ټیټ نسبت دی. روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي تر ټولو لوړه کچه په نورستان کې ثبت شوې؛ چې د (۴۱۰۰ )کسانو لپاره لومړنی روغتیایي مرکز او (۵۳۰۰۰) کسانو لپاره روغتون شتون لري. روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي تر ټولو ټیټه کچه په کندهار ولایت کې ثبت شوې، چې د شل زره او څلور سوو (۲۰۴۰۰) کسانو لپاره لومړنی روغتیایي مرکز او د شپږ لکه او اتیا زرو (٦۸۰۰۰۰) کسانو لپاره روغتون خدمتونه وړاندې کوي. په سپینو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو کچه د بیلابیلو لاملونو له کبله د لاسرسي وړ نه ده.

## 4.2 انساني او مالي سرچینې

د عامې روغتیا وزارت د روغتیا په برخه کې اصلي او لاربنودې اداره ده. د کارکوونکو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، دا وزارت په ټول هېواد کې د ۲۷۴۱٦ رسمي امارتي بستونو، ۱۳۰۰۰ احتیاطي (ذخیره) بستونه، تر ۱۰۰۰ انکشافي بستونه او ۵۰۰ قراردادي (بالمقطع) بستونو ترڅنګ د ۲۷۲۵٦ په تخمین روغتیایي کارکوونکي د(BPHS &EPHS) پروګرام تر چتر لاندې هم خدمات وړاندې کوي ددې پراخو تشکیلاتو له امله، د عامې روغتیا وزارت د افغانستان اسلامي امارت له مهمو او ارزښتناکو وزارتونو څخه شمېرل کېږي.

د کارکوونکو چارو ریاست خپلې چارې د ټاکل شویو دندو، اصولو او مقرراتو له مخې پر مخ وړي او د بشري سرچینو په بنه او اغېزمن مدیریت کې مهم رول لري. دا ریاست د کارکوونکو په ګمارنه، ظرفیت لوړونه، هڅونه او ساتنه کې فعاله ونډه لري.

همدارنګه، د کارکوونکو د معلوماتو د مدیریت سیستم (HRMIS) جوړېدل او فعالېدل د یادونې وړ پرمختګ دی، چې د عامې روغتیا وزارت د کارکوونکو چارو ریاست تر چتر لاندې په مؤثر ډول فعالیت کوي او د کارکوونکو په مدیریت کې اسانتیاوې رامنځته کوي.

د روغتیا ملی پالیسی د معلوماتو له مخې په افغانستان کې د ډاکټرانو، نرسانو او قابلو شمېر د هر ۱۰۰۰۰ نفوس پر سر د دوامدار پرمختګ (SDG) او نړیوال روغتیایي پوښښ له ټاکل شویو موخو او هدف څخه ډېر کم دی.

*لاندې جدول په افغانستان کې د روغتیایي کارکوونکو (ډاکټرانو، نرسانو او قابلو) شمېر د هر ۱۰۰۰۰ نفوس پر سر د دوامدار پرمختګ (SDG) له ټاکل شوې موخې او نړیوال روغتیایی پوښښ (UHC) له تعین شوی هدف سره مقایسه کوي:*

| ګڼه | دوزارت[4] په کچه د هر ۱۰۰۰۰ نفوس پر سر د ډاکترانو، نرسانو او قابلو موجودیت | د هر ۱۰۰۰۰ نفوس په سر د دوامداره پرمختګ (SDG) وړاندیز شوې کچه | د هر ۱۰۰۰۰ نفوس په سر د نړیوال روغتیایی پوښښ (UHC) وړاندیز شوې کچه |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۱۰،۳ | ۳۴،۲ | ۴۴،۵ |

په وروستیو کلونو کې د روغتیایي کارکوونکو د پوښښ د زیاتولو لپاره پراخې هڅې شوې دي. له دې هڅو څخه ځینې دا دي: د کارکوونکو د معلوماتو د مدیریت مرکزي سیستم (CPAMIS) پیاوړتیا، د روغتیایي قوانینو د پلي کېدو ادارو رامنځته کول لکه د خوړو او درملو معینیت، طبي شورا او د نرسانو او قابلو شورا، همدارنګه د تخصصي او ثالثي روغتونونو جوړول او پراختیا، او د ولسوالیو په کچه د عمومي روغتونونو جوړول او پراخول.

په پرمختللونکو هېوادونو کې د عامې روغتیا سکتور لپاره د کافي سرچینو موندل، سم تخصیص او له دغو سرچینو څخه مؤثره او مثمره ګټه اخستل، د عامه روغتیایي پوښښ او لاسرسي لپاره حیاتي ارزښت لري. افغانستان هم، چې یو له مخ پر ودې هېوادونو څخه دی، تر ډېره د خپل روغتیایي نظام په برخه کې پر بهرنیو مرستو متکي پاتې شوی دی. په همدې اساس، روغتیایي خدمتونه زیاتره د قراردادي تطبیقوونکو مؤسسو له لارې خلکو ته وړاندې کېږي.د افغانستان د روغتیا ملي حسابونو د (NHA, 2022) د راپور له مخې، د روغتیا سکتور ټول لګښتونه شاوخوا ۳.٦ میلیارد ډالره اټکل شوي دي. له دې لګښتونو څخه لویه برخه، چې شاوخوا ۷۸ سلنه ده، پر خلکو او کورنیو بار ده، او خلک اړ دي چې د روغتیایي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره له خپل جیبه لګښت وکړي.

د ټولو لګښتونو له جملې څخه نږدې (۷۵۰) میلیونه ډالر د تمویلوونکو له خوا ورکول کېږي. د دې لګښتونو یوه برخه د لومړنیو روغتیایي خدمتونو او د اړینو روغتونې خدمتونو د کڅوړو له لارې او نږدې درییمه برخه یې د عمودي (Vertical) پروژو له لارې د تطبیقوونکو مؤسسو او نړیوالو سازمانونو لخوا مصرفېږي.

د عامې روغتیا وزارت هوډ لري چې د داخلي تمویلي سرچینو په زیاتولو سره د روغتیایي سکتور په تمویل کې د امارت ونډه زیاته کړي او د روغتیایي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره پر کورنیو او اشخاصو اقتصادي پیټی (Out of Pocketکم کړي.

لاندې ګراف د ولایتونو او د نفوسو (لسو زرو) له مخې د روغتیایي مرکزونو شمېر[5] ښیي:

[4] دکارکونکو چارو ریاست

[5] HMIS, 2025:سرچینه




## 4.3 د روغتیا وزارت تشکیلاتي ارګانوګرام:

د۱۴۰۴[6] کال لپاره د عامې روغتیا وزارت د رهبری منظور شوی تشکیلاتي جوړښت په لاندې ډول دی، د تشکیلاتي جوړښت اړوند نور تفصیلي معلومات په ضمیمه کې موندلی شي.

---

[6] سرچینه: دکارکنانو ریاست ۱۴۰۴کال




# 5 د روغتيايي محيط تحليل

## 5.1 د روغتيايي سيستم د قوتونو، کمزوريو، فرصتونو او تهديدونو تحليل (SWOT)

**قوتونه:** د مرکزي او ولايتي تشکيلاتي جوړښت موجوديت، د (BPHS & EPHS) په شان د ملی برنامو موجوديت، د ستراتيژيکو کليدي اسنادو تدوين، د روغتيايي معلوماتو د مديريت سيستم ( HMIS ) موجوديت، چې پر شواهدو د تصميمونو نيولو ته يې زمينه برابره کړې ده، موثره همغږي، چې د خدمتونو کيفيت د ښه والې سبب ګرځيدلې، همدارنګه د روغتيايي معلوماتو مديريت سيستم ( HMIS ) لارښوود، چې د راپور ورکولو، شاخصونو او د معلوماتو د مديريت لپاره مهم دي، اړين حداقل معيارونه (Minimum Required Standards (MRS)، او د خصوصي روغتيايي سکتور د اعتبار ورکولو ملي معيارونو موجوديت چې د خصوصي روغتوني خدمتونو وړاندې کولو په معياري کولو کې مهم رول لوبولی شي. د خصوصي سکتور روغتيايي خدمتونو په وړاندې کولو کې د پام وړ پراختيا چې د عامه سکتور روغتيايي تسهيلاتو سره يوځای ثانوي او ثالثي روغتيايي خدمتونه وړاندې کوي. د غير دولتي مؤسسو د کاركوونكو د معاشاتو ملي پاليسي- يا ( EPHS&BPHS-NSP)، د مصارفو تحليلي سند ( Cost analysis) تدوين

چې د غیر دولتي موســـســـو له خوا د صـــحي خدمتونو وړاندې کولو کې مهم رول لوبولی شي. په تیرو کلونو کې افغانســـتان د پام وړ نړیوالې مرســـتې ترلاســـه کړې دي، چې د روغتیايي خدمتونو په پراختیا او فعال ســـاتلو کې ګټورې وې.

د خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې له غیر دولتي مؤسسو (NGOs) سره مشارکت، په ځانګړې توګه د محرومو او لیرې پرتو سیمو پوښښ د قوې نقطو په توګه یادولی شو.

**کمزوری:**

د افغانستان روغتیا سکتور له ګڼو ستونزو سره مخ دی. په ډېرو ولایتونو، حتی په کابل کې هم، معیاري روغتیایي ودانۍ کمې دي. د روغتیایي کارکوونکو کمښت شته، په ځانګړي ډول په لرو پرتو سیمو کې. همدارنګه، روغتیایي کارکوونکي په عادلانه ډول نه دي وېشل شوي؛ ښارونه د کلیو په پرتله ډېر مسلکي کسان لري.

په روغتونونو کې د طبي وسایلو د ترمیم او ساتنې لپاره د بیومېډیکل انجنیرانو کمښت شـته، د روغتیايي خدمتونو ټیټ کیفیت، د روغتیایي مرکزونو لپاره د مناســـبو ودانیو کموالی، په ادارو کې د دندو تکرار، او د مرکزي او ولایتي روغتیایي ادارو ترمنځ کمزورې همغږي هم مهمې ســـتونزې دي. سربېره پر دې، روغتیایي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی برابر نه دی، په ښاري او کلیوالو سیمو کې د روغتیایی خدمتونو په کیفیت کې توپیر شته او په ځینو سیمو کې لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي ســـتونزې موجودې دي. پر بهرنیو مرســـتو ډېر تکیه، او د ډیجیټلي سیستمونو محدود کارول هم د دې سکتور له کمزوریو څخه دي.

**تهدیدونه:**

د عامې روغتیا وزارت کافي مالي سرچینې نه لري، په ځانګړي ډول د ثانوي او ثالثي روغتیایي خدمتونو لپاره. په فعالیتونو کې همغږي کمزورې ده، وړ کارکوونکي لږ دي، دولتي تمویل محدود/ناکافي دی، او روغتیایي ســـکټور لا هم پر ځان بسیا نه دی. د طبي وسایلو، روزل شویو کارکوونکو او نوې طبي ټکنالوژۍ کمښت، پر مرستندویه ادارو تکیه، په بېلابېلو کچو د همغږۍ کمزوري، د درملو او طبي موادو کمښـــت هغه نور جدي ګواښـــونه دي چې روغتیایي سکتور ورسره مخ دی.

**فرصتونه:**

د ناروغیو د مخنیوي او کنټرول لپاره د اســـلامي امارت ژمنتیا او ملاتړ، د ۴۵۸۲ فعالو روغتیایي مرکزونو شـــتون، د اســـلامي امارت ملي بودیجه، او د نړیوالو همکارانو مالي او تخنیکي مرســـتې د روغتیا ســـکتور مهم فرصـــتونه دي. همدارنګه، د بنسټیزو روغتیایي خدمتونو او روغتونونو کڅوړو شتون، د متخصصینو د روزولو لپاره د تخصص بشپړتیا لوی ریاسـت او په تخصـصي- روغتونونو کې د متخصـصـینو د روزنې پروګرامونه، د خصـوصـي سـکتور شـتون او په واکسـین، پولیو له منځه وړلو، ملاریا، توبرکلوز، تغذیې، فزیکي بیارغونې او د سـترګو په برخه کې نړیوال او سیمه

ييز ملاتړ مهم فرصتونه بلل کېږي. د تشخيص، درملنې او بيارغونې د ځينو وسايلو شتون او د شواهدو پر بنسټ پرېکړې کول هم له فرصتونو څخه دي.

## 5.2 وبايات (اپيديميولوژي) او د وګړيزو (ډېموګرافيکو) بدلونونو او ناروغيو بار

د احصــايې ملي اداري د ۱۴۰۴ (۲۰۲۵) کال د احصــايوي محاســبو او تخميناتو له مخې، د افغانســتان نفوس شاوخوا ۳٦ میلیونه اټکل شوی دی، چې ۵۱ سلنه يې نارينه او ۴۹ سلنه يې ښځې دي. د افغانستان نفوس ډېره برخه يې ځوانان تشکيلوي چې نيمايي نفوس ۴۷٪ ماشومان له ۱۵ کلونو کم عمر لري، دغه ارقام افغانســتان د نړۍ د څلورو ډېرو ځوانو نفوس لرونکو هيوادونو په ډله کې راولي چې لويه سلنه نفوس يې له ۱۵ تيټ عمر لرونکي دي.

(شکل ۱) دا ښيي چې په افغانستان کې د ځوان نفوس په تناسب سره د کوچنيانو د زيږون کچه لوړه ده. د ژوند منځنۍ تمه په نارينه‌وو کې ٦۴ کاله او په ښځو کې ٦٧ کاله اټکل شوې ده. (**NHA-NSIA2021-2022**).



Figure1: Demographic and health status indicators in Afghanistan

## 5.3 د کليدي روغتيايي شاخصونو حالت:

د روغتيا ملي پاليســی ( ۱۴۴٦-۱۴۵۱) له مخې، د زيږون په مهال د نارينه و او زنانه و د ژوند کولو منځنۍ تمه په ۲۰۰۰ کال کې ۵٦ کاله وه، خو په ۲۰۲۴ کال کې شــاوخوا ٦۵.۳ کلونو ته لوړه شــوې ده. دا ښــه والی تر ډېره د ماشومانو د مړينې کچې د کمېدو له امله رامنځته شوی دی.

د روغتيا ملي پاليسی (۱۴۰٦-۱۴۵۱) د ميندو د مړينې کچه په هر ۱۰۰ زره ژونديو زيږونونو کې ٦۳۸ ته ښودلې ده. د نوېو زيږېدلو ماشومانو مړينه يې په هر ۱۰۰۰ زيږونونو کې ۲۳ ته او د يو کال څخه کم عمره ماشومانو مړينه

يې په هرو زرو ژونديو ماشـــومانو کې ۴۱ تنه ښـــودلې ده. د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشـــومانو مړينه په ۱۰۰۰ ژونديو زيږېدلو کې شاوخوا ۵۰ تنه اټکل شوې ده.

د نفوس د ودې کچه په کال کې دوه اعشـاريه څوارلس (۲.۱۴) سـلنه ده، او د زيږون عمومي کچه پنځه عشـاره دري ۵.۳ اټکل شـوې ده. په کليوالو، بې‌وزلو او لږ تعليم لرونکو سـيمو کې ډېر عمر لرونکي خلک د ژوند له ټيټې تمې سره مخ دي چې دا يوه ټولنيزه نا انډولتيا ده. د اوږدو جګړو، اقتصـــادي ســـتونزو او د روغتيايي ســـيســـتم د کمزورۍ له امله، د افغانستان روغتيايي شاخصونه د ډېرو پرمختللو هېوادونو په پرتله لا هم ټيټ دي.

د شري ناروغی د پېښو او مړيني کچه په تېرو څلورو کلونو کې په لاندې ګراف کې ښودل شوې ده.




## 5.4 د عامې روغتيا وزارت، ملي او بين المللي شريکانو او خصوصي سکتور نقش

د عامې روغتيا وزارت د خلکو د روغتيا لپاره اصلي او مخکښ امارتي ارګان دی او د ټول نفوس د روغتيا مسوولیت پر غاړه لري. د دې وزارت بنسټيزې دندې دا دي:

د روغتيا سکتور رهبري کول، مالکيت او حاکميت، او ورته ستراتيژيک ليد لورى ټاکل، د حساب ورکونې او روڼتيا تامينول او د فساد پر وړاندې د صفر زغم پاليسي عملي کول. همدارنګه، د خوړو، درملو، طبي وسايلو او روغتيايي پروګرامونو تنظيم او قانوني کول د دې وزارت له مهمو دندو څخه دي.

وزارت هڅه کوي مالي، بشري او تخنيکي سرچينې راجلب کړي، او ورڅخه مؤثره او مثمره ګټه واخلي. د روغتيايي پروګرامونو د پلي کېدو لپاره له شريکانو سره همغږي کوي. روغتيايي چارو ته د انساني، تدارکاتي، مديريتي، او مالي سرچينو جلب او انسجام تامينوي. د وقايوي او معالجوي خدماتو کيفيت ښه کول، د روغتيايي معيارونو پلي کول، دوامداره نظارت او څارنه، له سرچينو مثمره ګټه اخېستنه، روغتيايي روزنه/ظرفيت لوړول او د خدمتونو وړاندې کول

هم د وزارت اساسي کارونه دي. د دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونو، انسټېټیوټونو او روغتونونو په واسطه وقایوي او معالجوي خدمتونه هم یقیني کوي.
د بنسټیزو روغتیایي خدمتونو او روغتوني اساسي خدمتونو کڅوړې او ورته نور روغتیایي پروګرامونه د (BPHS&EPHS-Contract out) قراردادي سیستم له لارې عملي کوي، خو رهبري، ملاتړ او څارنه یې د عامې روغتیا وزارت له خوا ترسره کېږي.
د عامې روغتیا وزارت ملي روغتیایي پالیسۍ او تګلارې جوړوي، وړاندیز کوي او تطبیقوي. دا وزارت هڅه کوي چې روغتیایي خدمات په ټول هېواد کې تنظیم او معیاري کړي، او د کیفیت د ساتلو لپاره معیاري تګلارې (SOPs) جوړې کړي.
وزارت مالي او تخنیکي ملاتړ رامنځته کوي، له نړیوالو شریکانو سره همغږي کوي، مرکز او ولایتونو ته بودیجه، تجهیزات او مسلکي روزنه برابروي. همدارنګه، د بیړنیو حالاتو لکه وباګانو، وچکالۍ، زلزلو او نورو ناورینونو مدیریت هم د وزارت له مهمو دندو څخه دی. احصائیه او څېړنه، د روغتیایي معلوماتو راټولول، شننه او د شواهدو پر بنسټ پرېکړې کول، د روغتیایي مرکزونو څارنه او ارزونه، په مرکز او ولایتونو کې د عامې روغتیا وزارت له خوا د جوړو شویو ملي تګلارو او پالیسیو پلي کول او په مرکز او ولایتونو کې له غیر دولتي موسسو او ټولنیزو شوراګانو سره د روغتیایي فعالیتونو همغږي هم د دې وزارت دندې دي.
د اړتیاوو راپور ورکول، د ولایتونو روغتیایي ستونزې، اړتیاوې او پرمختګونه، مرکز (وزارت) ته راپور ورکول، مالي او لوژستیکي مدیریت، په مرکز او ولایتونو کې د ورکړل شوې بودیجې، درملو او تجهیزاتو مدیریت او د شفافیت ساتنه هم مهم فعالیتونه دي.
**د ملي او نړیوالو شریکانو مسولیتونه او دندې :** ملي او نړیوال شریکان د روغتیا سکتور مهم ملاتړي دي. دوی د روغتیایي پروګرامونو لپاره مالي مرسته برابروي، او د خدمتونو په تطبیق کې برخه لري، لکه؛ د واکسین، تغذیې، مور او ماشوم روغتیا او د ساري ناروغیو کنټرول. همدارنګه، د روغتیا سیستم د پیاوړتیا پروژې تمویلوي او د بیړنیو حالاتو پر مهال مالي او تخنیکي ملاتړ کوي.
دا شریکان د عامې روغتیا وزارت د پالیسیو، تګلارو، طرزالعملونو او نورو اسنادو له مخې خدمتونه وړاندې کوي، د لومړیتوبونو په اساس پروژې ډیزاینوي، تطبیقوي او همغږي تر سره کوي. دوی له دوه ګونو خدمتونو وړاندې کولو مخنیوی کوي، شفافیت ته ژمن دي او ټولنې او امارت ته د اجراتو په هکله حساب ورکوي.
همدارنګه دوی د روغتیایي پالیسیو، تګلارو، طرز العملونو او پلان جوړونې په برخه کې عامې روغتیا وزارت ته تخنیکي مشورې ورکوي، د روغتیایي معلوماتي سیستمونو د څارنې او ارزونې میکانیزمونو په جوړولو کې مرسته کوي، د روغتیایي کارکوونکو په روزنو (ظرفیت لوړونه) کې په ځانګړې ډول د تخصص بشپړولو پروګرام کې تخنیکي او مالی ملاتړ رامنځته کوي، او په ورته برخو کې ګډ لاربښودونه برابروي، د روغتیا په برخه کې نړیوال معیارونه د هېواد د

اړتیاوو سره سم تطبیقوي، د روغتیایي پروګرامونو د پلي کولو څخه ګډ نظارت ترسره کوي او د کړنو راپور په خپل وخت شریکوي.

### خصوصي سکتور ونډه:

خصوصي سکتور ټول روغتیايي خدمتونه وړاندې کوي او ددې ترڅنګ هغه روغتیایي خدمات هم وړاندې کوی چې په دولتي او غیر دولتي سکتور کې شتون نه لري، او د خپلو سرچینو په کارولو سره یې فعال او دوامداره ساتلی دي. د دې سکتور کیفیت او ظرفیت لوړول او معیارونه پلي کول د عامې روغتیا وزارت، د خصوصي سکتور رهبری، او نړیوالو همکارانو ګډ مسوولیت دی.
خصوصي سکتور د لومړی، دوهمې او دریمې کچې روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي او د نړیوالو او ملي معیارونو په چوکاټ کې یې اعتبار تضمینوي. د دې سکتور نقش د روغتیایي معایناتو، معالجوي پروګرامونو، وقایوي خدمتونو او نورو روغتیایي خدماتو په برخه کې پراخ دی. د خصوصي سکتور وده، ملاتړ او پرمختګ د دریو اړخونو ګډ مسوولیت دی.

# 6 تطبیقي چوکاټ

## 6.1 حکومتولي او رهبري:

**معرفي:**
ښه حکومتولي دا تضمینوي چې خلک عادلانه، ارزانه، مؤثر او باکیفیته روغتیایي خدمات ترلاسه کړي. دا کار د سرچینو مؤثر او مثمر تخصیص ته اړتیا لري. د پالیسیو او مقرراتو شتون د روغتیایي خدمتونو عرضه ښه کوي او د څارنې او ارزونې میکانیزمونه د روغتیا سیستم د کړنو بیاکتنې ته لاړښوونه کوي.
د روغتیایي خدمتونو یوه لویه برخه د غیر دولتي موسساتو (NGOs) او خصوصي روغتیایي خدمتونو وړاندې کوونکو ته سپارل شوې ده. له همدې امله، د همغږی جوړښتونه او اداري، لکه د روغتیا همغږی ستراتیژیکه کمیټه (SHCC)، د روغتیا بین‌السکتوري همکاریو ګروپ، د BPHS او EPHS همغږی کمیټه، او نور، چې اوس مهال یې دندې محدودې دي، باید پیاوړې شي ترڅو د روغتیا ښه حکومتولي او همغږي تضمین کړي.
ښه حکومتولي څو بنسټیزې ځانګړتیاوې لري، چې د عامې روغتیا وزارت د خدماتو په تطبیق کې باید په نظر کې ونیول شي، دا د روغتیایي خدمتونو په وړاندې کولو کې مهم رول لوبوي:
له تبعیض پرته په عادلانه توګه د عامه خدمتونو وړاندې کول، د شرعي قانون حاکمیت، روڼتیا او معلومات ورکول، د ځواب ویلو او مسوولیت منل، برېښنایي حکومتولي، د قواعدو او پروسو ساده کول، د قانون منلو د کلتور پیاوړتیا، او

د ډيپلوماسۍ او نړيوالو مرستو پياوړتيا شامل دي. دغه ځانګړتياوې د حکومت د فعاليت کيفيت لوړوي، د سرچينو مؤثره او مثمره کارونه تضمينوي، او د خلکو باور او رضايت زياتوي.

**ستراتيژيک هدف:** د مؤثرې همغږۍ له لارې له ملي او نړيوالو شريکانو، خصوصي سکتور او ټولنو سره د عامې روغتيا وزارت رهبري او حکومتولي پياوړې شي، تر څو خلک عادلانه او باکيفيته روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی ولري، د اسلامي احکامو سره سم يې روڼتيا او حساب ورکونه زياته شي او د هېواد د خلکو په روغتيا کې مثبت بدلون راشي.

**ستراتيژيک مقصدونه:**

**ستراتيژيک مقصد ۱** :د مديرانو د ظرفيت لوړولو، د نظارتي سيستمونو ښه کولو، د بريښنايي مديريت پلي کولو او د شواهدو پر بنسټ شفافو پرېکړو د تضمين له لارې د عامې روغتيا وزارت په ټولو کچو کې د ځواب ويونکې رهبرۍ او ښې حکومتولۍ پياوړتيا.

**ستراتيژيکې مداخلې**

- په مرکزي او ولايتي کچه د څارنې او حساب ورکونې کمېټې او واحدونو پياوړي او منظم کول
- د خوړو او درملو په برخه کې له اړوندو ملي او نړيوالو تنظيموونکو ادارو سره اړيکې جوړول
- خلکو ته د خوړو او درملو د تنظيم او قانوني پروسو په اړه معلومات ورکول
- د شفافيت او د چارو د تعقيب لپاره د حکومتولۍ د برېښنايي مديريت سيستم پراخول او کارول.
- د شواهدو پر بنسټ د تصميم نيولو د معيارونو جوړول او بيا کتنه
- په ټولو واحدونو او اړوندو ادارو کې د ځواب ويلو او حساب ورکونې فرهنګ ترويجول
- د خلکو او کارکوونکو د شکايتونو د ثبت او حل لپاره ميکانېزمونه پياوړي کول او د اړوندو مراجعو او ټاکل شويو کمېټو له لارې د شکايتونو مديريت.
- د نوښتي طرحو ملاتړ او تشويقول

**ستراتيژيک مقصد ۲:** په روغتيايي نظام کې د سياسي مداخلو او فساد کمول، شفاف او ځواب ويونکی روغتيايي نظام رامنځته کول، د قوانينو او مقرراتو تطبيق، او د ټولنې د باور لپاره د عدالت تامينول.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د سیاسي مداخلې او فساد د مخنیوي لپاره د روغتیا اړوند قوانینو او مقرراتو بیاکتنه او تطبیقول
- د ادارو د کړنو د شفافې څارنې او تعقیب سیستم پراخول او د مؤثر تعقیبي میکانیزم رامنځته کول.
- د روڼتیا او حساب ورکولو یقیني کولو په موخه خلکو، شریکانو او تمویلوونکو ته د روغتیا سېستم د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه منظم معلومات ورکول او میکانیزمونه رامنځته کول.
- د اسلامي شریعت په رڼا کې د روغتیایي سېستم د قوانینو پراختیا

**ستراتیژیک مقصد ۳:** د روغتیایي خدماتو معیاري کولو، په لیرې پرتو او محرومو سیمو کې د پوښښ زیاتولو او د خدمتونو ادغامولو لپاره د نویو پالیسیو، ستراتیژیو اومیکانیزمونو انکشاف، او د شته روغتیایي مرکزونو  منطقي کول Rationalization

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د روغتیایي مرکزونو د خدماتو معیارونه نوي کول او پلي کول
- د ولایتونو په کچه د روغتیایي پلان جوړونې، پلي کېدو او څارنې کې د ټولنې او علماوو شورا ګډون
- په سپینو او محرومو سیمو کې د روغتیایي مرکزونو د جوړولو پلان له لارې د خدماتو پراخول
- عامه او خصوصي روغتیایي مرکزونو ته اعتبار ورکونه(Accreditation)
- د بېلابېلو پروګرامونو ترمنځ همغږي او د تکراري روغتیایي خدمتونو ادغام او مثمریت
- دشته روغتیایی مرکزونو منطقی کول یعني (دشواهدو او اړتیاوو پربنسټ دمثمریت او موثریت دلاسرسي او کیفیت لوړولو له لارې )

**ستراتیژیک مقصد ۴:** د روغتیایي سېستم د مؤثریت د زیاتولو لپاره د ادارو د کاري بهیرونو تنظیمول،  د تصمیم نیونکو پروسو اصلاح کول او د داخلي ادارو تر منځ همغږي پیاوړې کول.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- له معیارونو سره سم د اداري جوړښتونو بیاکتنه، د دندو روښانه وېش او د اغېزمنو میکانیزمونو له لارې د پرېکړو نیولو او مدیریتي پروسو اصلاح کول.

- د مرکزي او ولایتي ادارو ترمنځ د اغېزمنې همغږۍ میکانېزمونه رامنځته کول

**ستراتیژیک مقصد ۵:** باکیفیته روغتیایي خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي لپاره د خصوصي سکتور ګډون او له ملي او نړیوالو شریکانو سره همکاري پراخول.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د خصوصي روغتیایي سکتور ملاتړ او د ښو روغتیایي معیارونو د تطبیق میکانیزمونو انکشاف
- د عامه او خصوصي مشارکت لپاره د پانګونې فرصتونه برابرول
- دشفافو قراردادونه کول او د عامه خصوصي مشارکتي پروژو څارنه (دامارتي ادارو دعقودو اویا عامه اوخصوصي مشارکت قانونو پر بنسټ)
- په روغتیایي سکتور کې د عامه او خصوصي مشارکتي میکانېزمونو پیاوړي کول
- د عامې روغتیا وزارت او شریکانو ترمنځ د همغږۍ مؤثر سیستم جوړول
- د فوق تخصصي خدماتو لپاره معیاري
- خصوصي مرکزونه او روغتونونه جوړول او پراخول
- د خیریه بنسټونو، خصوصي پانګه‌والو او نړیوالو شریکانو په مرسته غیر انتفاعي روغتونونه جوړول او پراختیا.

**ستراتیژیک مقصد٦:** د تعلیمي او تحقیقي مرکزونو د رامنځته کولو او دوامداره زده کړو له لارې د عامې روغتیا وزارت د کارکوونکو او مدیرانو د ظرفیت لوړونې پرګرامونو برابرول او د مهارتونو او پوهې پراختیا.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د تخصصي او مدیریتي روزنیزو پروګرامونو پیاوړي کول او دې لپاره د مؤثرو میکانیزمونو جوړول.
- د تعلیمي او څېړنیزو مرکزونو جوړول او تجهیزول

**ستراتیژیک مقصد ۷:** د روغتیایي خدمتونو د دوام لپاره د بهرنیو مرستو په ځای پر کورنیو سرچینو تکیه کول او د شفافیت او څارنې تضمین.

**ستراتيژيکي مداخلې:**

- د روغتيا په ملي انکشافي بوديجې کې د اسلامي امارت ونډه زياتول
- د بوديجې او مالي سرچينو د مصرف د څار مؤثر ميکانيزم جوړول
- د شفافيت او حساب ورکونې ښه والي لپاره د مالي راپور ورکولو د مؤثر سيستم پراختيا

## 6.2 کارکوونکو چارې:

**معرفي:**

د عامې روغتيا وزارت د اسلامي امارت له سترو، اړينو او ارزښتمنو وزارتونو څخه ګڼل کېږي. د وزارت د کارکوونکو چارو مديريت د ټاکل شوو اصولو او مقرراتو له مخې پر مخ وړل کېږي.

اوس مهال په افغانستان کې د روغتيايي کارکوونکو، لکه ډاکټرانو، نرسانو او قابلو شمېر کم دی. د هرو لس زره خلکو پر وړاندې د روغتيايي کارکوونکو شمېر د دوامدار پرمختګ (SDG) له ټاکل شوې موخې څخه ټيټ او د نړيوال روغتيايي پوښښ له ټاکل شوي هدف څخه ډېر ښکته دی.

په وروستيو کلونو کې د روغتيايي کارکوونکو د مديريت، او د روغتيايي کارکوونکو د پوښښ لوړونې په برخه کې پراخې هلې ځلې او د پام وړ پرمختګونه شوي دي ، د بېلګې په توګه، د کارکوونکو چارو د معلوماتو د مديريت سيستم (CPAMIS) پياوړی شوی دی. د روغتيايي قوانينو د پلي کولو لپاره مهمې اداري جوړې شوې دي، لکه د خوړو او درملو معينيت، طبي شورا او د نرسانو او قابلو شورا. اوس مهال د نرسانو او قابلو شورا د طبي شورا په چوکاټ کې مدغم شوې او د عامې روغتيا وزارت تر چتر لاندې د عمومي رياست په توګه فعاليت کوي.

په هېواد کې تخصصي، ثالثي د ولسواليو په کچه روغتونونه جوړ شوي او پراختيا ورکړل شوې ده. د دغو روغتونونو د جوړېدو له لارې نږدې ۱۴ زره کسانو ته په مرکز او ولايتونو کې د کار زمينه برابره شوې ده. سربېره پر دې، په يو شمېر روغتونونو کې فوق تخصصي روغتيايي خدمتونه پيل شوي، تر څو خلک وکولای شي په هېواد دننه پرمختللي درمليز خدمات تر لاسه کړي. د تخصص بشپړتياپروګرام ته په تخنيکي، اکاډميک ، نظارتي او د جوړښت په چارو

کې تربیه، وده او پرختیا ورکول شوې ده[7] . د مسلکي او حمایوي کارکوونکو د وړتیاو او مهارتونو لوړولو لپاره لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله روزنېز فرصتونه د هېواد دننه او بهر برابر شوي دي.

د معاشونو د عادلانه وېش لپاره د BPHS او EPHS خدمتونو وړاندې کوونکو مؤسسو لپاره د معاش ملي پالیسي جوړه او عملي شوې ده. همدارنګه، د مسلکي روغتیایي کارکوونکو د هڅونې او ساتنې لپاره د مالي امتیازاتو ځانګړې کڅوره جوړه او منظوره شوې ده.

د کارکوونکو د روزنیزو اړتیاوو د معلوموولو لپاره ارزونې ترسره کېږي او د وړتیا لوړولو جامع پلانونه جوړېږي. د همدې پلانونو له مخې لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله روزنیز پروګرامونه عملي کېږي. د تخصص بشپړتیا پروګرام فارغان د ځانګړي میکانیزم له لارې لېرې پرتو سیمو ته د خدمتونو وړاندې کولو په خاطر لېږل کېږي، تر څو هلته د متخصصینو کمښت او نابرابري کمه شي.

د مسلکي او متخصصو روغتیایي کارکوونکو د لا ډېرې هڅونې او ساتنې لپاره د مادي او معنوي تشویقي کڅوړو چمتو کول اړین شوي دي. او د نیمه لوړو روغتیایي کارکوونکو لپاره د تشویق داسې ارزښتناکه میکانیزم په پام کې نیول شوی دی چې هغوی وکولای شي په ښه ډول روغتیایي خدمتونه وړاندې کړي. د دې ترڅنګ، د مسلکي اعتبار د لوړولو لپاره د ماستري او لوړو زده کړو پروګرامونه، عامه پوهاوي فعالیتونه، او د دندو د اعتبار او معیار لوړولو چارې ترسره کېږي. د تخصص بشپړتیا پروګرام د معیارونو د بشپړولو لپاره هڅې روانې دي، او که اړتیا وي، دا پروګرام به د تخصص بشپړتیا د معیارونو او پالیسی سره سم د خصوصي سکتور روغتونونو او مرکزونو ته هم وغځول شي.

## ستراتیژیک هدف

د دې ټولو هڅو اصلي هدف دا دی چې وړ، ژمنو، هڅاندو او مسوولو روغتیایي کارکوونکو ته پراختیا ورکول شي، تر څو خلکو ته د روغتیایي خدمتونه رسول پیاوړي شي، اقتصادي پیاوړتیا رامنځته شي، ټولنیزه هوساینه زیاته شي او ملي او نړیوال روغتیایي خوندیتوب تأمین شي.

## ستراتیژیک مقصدونه:

[7] تشکیل سال های ۱۴۰۱-۱۴۰۲-۱۴۰۳

**ستراتیژیک مقصد ۱:** د خلکو د روغتیایي اړتیاوو، د ناروغیو ځانګړتیاو او زیانمنو قشرونو ته په پام سره، په ځانګړي ډول هغو سیمو ته چې مسلکي او متخصص کارکوونکي پکې ډېر کم دي، ، د ۱۰۰۰۰ نفوس لپاره د روغتیایی کارکوونکو پوښښ کچې په پام کې نیولو سره د روغتیایي کارکوونکو لپاره منظم پلان جوړول، ګمارنه، روزنه، ساتنه او همغږي رامنځته کول.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د کارکوونکو چارو ملي ستراتیژي به د عامې روغتیا وزارت او نړیوالو شریکانو په تخنیکي او مالي ملاتړ جوړه او پراختیا ورکول شي.
- د کارکوونکو د معلوماتو د مدیریت سیستم (CPAMIS) ته به د ملي او نړیوالو شریکانو په همکارۍ وده او پراختیا ورکول شي او هر وخت به د استفادې لپاره چمتو وي.
- د کارکوونکو د ازادې سیالۍ ګمارنې او مدیریتي چارې به د کاري شریکانو په همکارۍ سره د وړتیا او اهلیت پر بنسټ د ډیجیټلي سیستمونو له لارې ترسره شي.
- د کاري شریکانو سره د حق غوښتنې او همغږۍ له لارې به د لرې پرتو سیمو لپاره چې د مسلکي او متخصصو کارکوونکو د زیات کمښت او نا انډولۍ  سره مخ دي؛ د طبي لوړو زده کړو لپاره زده کوونکي وټاکل شي.

**ستراتیژیک مقصد ۲ :**د ملي، سیمه ییز او نړیوالو منل شوو معیارونو سره سم د کارکوونکو  وده، پراختیا او د وړتیا لوړونه

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- نویو ګمارل شویو کارکوونکو ته به د دندو د لایحې د اړتیاوو سره سم د وظیفوي لارښوونې لپاره یو ځانګړی میکانیزم جوړ شي.
- په مرکزي او ولایتي کچه به، د کاري شریکانو سره په همکارۍ او همغږۍ، د کارکوونکو د روزنې ټولې اړتیاوې ارزول (TNA) کېږي، او د همدې اړتیاوو پر بنسټ به د عامه او خصوصي ښوونیزو مرکزونو له امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره د هېواد دننه او بهر د لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله روزنیز کورسونه تنظیم شي، تر څو مدیران او کارکوونکي د رهبرۍ او حکومتولۍ په برخه کې وروزل شي او وړتیا یې لوړه شي.

- د کاري شريکانو سره په همکارۍ او همغږۍ به د ټرينرانو، ډاکټرانو، متخصصينو او نورو مسلکي کټګوريو لپاره، د ناروغيو ځانګړتياوو، هدفمنو ډلو، او د کارکوونکو اهليت او وړتيا په نظر کې نيولو سره، د مسلکي او اداري وړتياوو د لوړولو لپاره جامع، ځانګړي، لنډمهاله او اوږدمهاله پلانونه جوړ شي.

- د مسلکي او حمايوي کارکوونکو د وړتيا لوړولو لپاره به د دندو له اړتياوو سره سم، بېلابېل ښوونيز نصابونه برابر شي، چې د ملي، سيمه‌ييزو او نړيوالو معيارونو سره به سم وي او دا کار به د کاري شريکانو په تخنيکي ملاتړ او همکارۍ ترسره شي.

- د دوامداره طبي تعليماتو (CME)، مسلکي کارکونکو او د ادارو مسولينو لپاره به د طبابت اخلاق او مسلکيتوب د معيارونو په نظر کې نېولو سره مناسب ميکانيزم او مشخص عملي اقدامات ترسره شي .

**ستراتيژيک مقصد ۳:** د مسلکي کارکوونکو د هڅونې او ساتنې لپاره ګټور او اغېزمن ميکانيزم جوړول، او

همدارنګه د روغتيايي متممو کارکوونکو، يعنې نرسانو او قابلو، لپاره مناسبې دندې رامنځته کول.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د کارکوونکو د ساتنې او هڅونې لپاره به د اغېزمنو لارو چارو د غوره کولو ميکانيزم جوړ شي، تر څو د روغتيايي کارکوونکو وظيفوي خونديتوب تضمين شي او د هغوی دندې روښانه شي.

- د مناسب کاري چاپېريال د رامنځته کولو لپاره به د تشويق او تقدير ميکانيزمونه جوړ شي، تر څو کارکوونکي په ښې روحيې او هڅونې سره کار وکړي.

**ستراتيژيک مقصد ۴:** د تخصص بشپړتيا پروګرام د ښوونيز کيفيت لوړول او پراخول، په ځانګړي ډول په هغو رشتو کې چې د ټولنې واقعي روغتيايي اړتياو ته ځواب وايي، تر څو دا پروګرام د سيمه‌ييزو او نړيوالو معيارونو سره برابر شي او خلکو ته تخصصي او فوق تخصصي روغتيايي خدمتونه په عملي ډول برابر کړي.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د تخصص بشپړتيا پروګرام د کيفيت د لوړولو لپاره به د ملي او نړيوالو معيارونو پر بنسټ د روزنيزو برنامو د څرنګوالي، کيفيت، څارنې او ارزونې لپاره معياري ازموينې، د ارزونو پړاوونه، او بريالۍ سيمه‌ييزې او نړيوالې تجربې کارول کېږي، او د شواهدو پر بنسټ به پرېکړې کېږي.

- د هېواد شرايطو ته په پام سره به د تخصص بشپړتيا د تخصصي او فوق تخصصي تعليمي نصابونو تدوين او منظمې بياکتنې، د سيمه‌ييزو او نړيوالو معيارونو غوښتنې او د هېواد ځانګړتياوې په نظر کې ونيول شي تر څو د تعليمي کيفيت مؤثر لوړوالی رامنځته شي.
- د تخصص بشپړتيا پروګرام د کيفيت د لوړولو لپاره به موجودې ښوونيزې زېربناوې لکه روزنيز روغتونونه، لابراتوارونه، ډيجيټلي کتابتونونه، څېړنيز مرکزونه او د عملي مهارتونو د لوړولو مرکزونه د پروګرام له معيارونو سره سمبال شي، او د اړتياو پر بنسټ به تخصصي او فوق تخصصي حياتي رشتې لېږې پرتو سيمو ته د لومړيتوب ورکولو له لارې پراخې شي.
- د تخصصي روزنو د کيفيت لوړولو، د اکمال تخصص د لا پياوړتيا، د تجربو شريکولو او د روزنيزو فرصتونو ګټه اخيستلو، لپاره به د ملي او نړيوالو معتبرو علمي مرکزونو سره تخنيکي همکارۍ شبکې جوړې شي.
- د تخصص بشپړتيا پروګرام لپاره به د نړيوال اعتبار د ترلاسه کولو په موخه د کيفيت او څرنګوالي د تضمين سيستم جوړ، پراخ، پياوړی او تطبيق شي، دې موخې ته د رسېدو لپاره به پر يو ځانګړي ميکانيزم کار وشي.
- د خصوصي روغتيايي سکتور د غوښتنې په صورت کې به د تخصص بشپړتيا پروګرام هغو خصوصي روغتونونو او مرکزونو ته و غځول او پراخ شي، چې د تخصص بشپړتيا پروګرام له معيارونو سره برابر وي.
- دتخصص بشپړتيا پروګرام دفارغانو اوشاميلينو د ورتيا څخه ګټه اخستنې په موخه مناسب ميکانيزم ايجادول تر څو دهيواد په ټولو ساحو کې تخصصي خدمات وړاندې شي.
- د تخصص بشپړتيا پروګرام د فارغانو او شاملو کسانو د ورتياوو څخه د مؤثرې استفادې لپاره به مناسب ميکانيزم جوړ شي، تر څو د هېواد په ټولو سيمو کې تخصصي روغتيايي خدمتونه وړاندې شي.

## 6.3 د روغتيا مالي تمويل

**معرفي:**

په پرمختيايي هېوادونو کې د عامې روغتيا سکتور ته د کافي سرچينو موندل، تخصيص او په مؤثره توګه مصرف کول د دې لپاره ډېر مهم دي چې خلکو ته روغتيايي خدمتونه ورسېږي او ټول خلک تر روغتيايي پوښښ لاندې راشي. افغانستان هم يو مخ پر ودې هېواد دی، روغتيايي نظام يې تر ډېره پر بهرنيو مرستو متکي دی. همدارنګه د روغتيايي خدمتونو ډېره برخه د تطبيقوونکو موسسو له لورې وړاندې کېږي. په پرتليزه توګه ويلی شو چې روغتيايي سکټور په کميتي لحاظ يو څه پرمختګ کړی دی.

د عامې روغتیا وزارت اراده لري چې د کورنیو تمویلي سرچینو په زیاتولو سره د روغتیایي سکتور په تمویل کې د اسلامي امارت ونډه لوړه کړي او همدارنګه پر خلکو او کورنیو هغه شخصي لګښتونه/اقتصادي پېټی (OOP) کم کړي چې دوی یې د روغتیایي خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره له خپلې جېبه ورکوي. د دې هدف لپاره، د عامه او خصوصي مشارکت له لارې په روغتیایي سکتور کې د ښو خدمتونو وړاندې کولو په موخه د خصوصي پانګونې د جذب فرصتونه برابر شوي دي.

د دې لپاره چې په روغتیایي سکتور کې لګښتونه په مؤثره توګه وکارول شي او د منابعو له ضایع کېدو مخنیوی وشي، د عامې روغتیا وزارت د مؤثر پلان جوړولو او د تګلارو د پلي کولو ژمنه لري. وزارت د اقتصادي ارزونو، د لګښتونو د تحلیل، د روغتیا ملي حسابونو او نورو څېړنیزو راپورونو له لارې شواهد او شمېرې راټولوي، تر څو پرېکړې د شواهدو پر بنسټ وشي او د عامه لګښتونو موثریت تضمین شي.

د پورته سټراټیژیکو هدفونو د ترلاسه کولو لپاره، د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي سکتور د ځان بسیاینې (خود کفایی) او پایښت لرونکو تمویلي سرچینو لپاره د تمویل تګلاره چمتو کړې ده. چې د تمویل  پایښت لرونکې عایداتي سرچینې پکې  تعریف شوي او تمرکز دا دی چې په تدریجي ډول په روغتیایي سکتور کې د اسلامي امارت تمویل زیات شي او پر خلکو هغه ملا ماتوونکي روغتیایي لګښتونه کم شي چې د دوی اقتصادي توان کمزوری کوي.

**سټراټیژیک هدف**

د روغتیایي سکتور د تمویل پروسې اصلاح، د پیرلو ځواک او عدالت ته په پام سره، معیاري او ارزانه روغتیایي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی، د موجوده سرچینو مؤثره کارونه، او د اسلامي اصولو او معیارونو پر بنسټ د مالي حمایتي میکانیزمونو چمتو کول

**ستراتیژیک مقصدونه:**

**ستراتیژیک  مقصد ۱:** د روغتیا لپاره د داخلي تمویلي منابعو فعالول

**ستراتیژیکې مداخلې**

- د عوایدو  د طرحې د تطبیق لپاره به د دخیلو سکتورونو او مشرتابه حمایت راجلب شي.
- په ملي بودیجه کې به د روغتیا سکتور لپاره د کافي بودیجې ځانګړې کولو په خاطر حمایت جلب شي.
- د روغتیا سکتور د عوایدو د پیګیری د طرحې تطبیق لپاره به حمایت جلب شي.

- په مضره توکو به (تنباکو، انرژي لرونکو مشروباتو، او ګازداره مشروباتو) اصلاحي ماليات وضع شي، په وسايطو او د ډبرو په سکرو به ماليات او نورې سرچينې فعالې شي، او د ياد چوکاټ ورانديزونه به عملي کړای شي.
- د روغتيايي خدمتونو د ملاتړ لپاره به د زکات او تکافل ميکانيزمونه رامنځته شي.
- د روغتيايي مرکزونو په کچه به د ځينو تمويلي ابتکاراتو د عملي کولو ميکانيزم جوړ او معرفی شي (لکه د صحت کارت)
- په تخصـــصيـــ، ثانوي او ثالثي روغتيايي مرکزونو کې به د حق‌الاجرت فيس پلي شي او په نومورو روغتيايي مرکزونو کې به د راټولو شوو عوايدو د مصرف لپاره ځانګړې طرحه جوړه شي.
- د معدنونو له عوايدو څخه به د يوې مشخصې کلنۍ سلنې د ترلاسه کولو لپاره د اسلامي امارت د عالي مشرتابه ملاتړ جلب کړای شي.

**ستراتيژيک مقصد ۲:** په روغتيايي سکتور کې د عامه او خصوصي مشارکت د پياوړتيا او خصوصي پانګه اچونې هڅول

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د عامې روغتيا وزارت لومړيتوب لرونکو ساحو کې به د عامه او خصوصي مشارکت له طريقه د خصوصي پانګه اچونې جلب لپاره فرصتونو ايجاد شي.

**ستراتيژيک مقصد ۳:** د تمويلوونکو هڅول ترڅو د روغتيا سکتور لومړيتوبونو په نظر کې نيولو سره سم مالي منابع چمتو کړي.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د روغتيا په سکتور کې د موجوده او راتلونکو مالي منابعو سمه ارزونه (منظمه ورانديوينه) به تر سره شي.
- د بهرنيو تمويلوونکو لخوا د موجوده تمويلي هڅو د تداوم لپاره به حمايوي ميکانيزمونه جوړ شي
- د تمويلوونکو سره په ګډه به د تمويلي اصلاحاتو تګلاره معرفي شي.
- د روغتيايي لګښتونو د پروسې د شفافيت او روڼتيا لپاره به ډاډمن سيستم او ميکانيزم رامنځته شي.
- د خود کفايۍ غير انتفاعی ميکانيزمونه به معرفي شي.

**ستراتيژيک مقصد ۴:** د منابعو پيګيري او تعقيب

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د روغتيا سکتور کې به د شته منابعو هر اړخيزه ارزونه ترسره شي.
- د مالي پروسو او مالي منابعو د جريان ساده کولو لپاره به طرحې چمتو کړای شي.
- د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو د متوازن والي په اړه به شواهد او ارقام راغونډ، تحليل او شريک کړای شي .
- د روغتيا د ملي حسابونو *NHA* کلني راپور لپاره به د ارقامو راټولولو، راپور چمتو کولو، خپرولو او د تطبيق لپاره حمايت راجلب کړای شي.
- د لګښتونو د مديريت معلوماتي **سيستم** *EMIS* فعالولو، منابعو جلبولو او تطبيق لپاره به د روغتيايي شريکانو د مکلف کولو په موخه ميکانيزم رامنځته شي.
- د عامه لګښتونو د تعقيب په موخه به په کلني ډول د عامه روغتيايي لګښتونو تحليل (*Expenditure Analysis*) ترسره شي.

**ستراتيژيک مقصد ۵:** د ستراتيژيکي خريدارۍ ميکانيزمونه رامنځته کول او يو شمير روغتونونو او روغتيايي مرکزونو کې يې تطبيق

**ستراتيژيکي مداخلې:**

- د ستراتيژيکي خريدارۍ لپاره به ميکانيزم رامنځته کړای شي.

**ستراتيژيک مقصد ٦:** د روغتيا سکتور کې په کورنيو د شخصي لګښتونو پيټي کمولو لپاره ميکانيزمونه رامنځته کول او د تطبيق څخه يې ډاډ ترلاسه کول.

**ستراتيژيکي مداخلې:**

- د روغتيايي لګښتونو د بارکمولو په موخه به د کفالت (روغتيايي بيمې) طرحه چمتو کړای شي.
- په خلکو د ملا ماتوونکو مصـــارفو د کمولو لپاره به په هغو برخو کې چې خلک اړ کيږي چې په خصـــوصي سکتور کې ډير مصارف وکړي، په دې اړه به د سبسايډي طرحه چمتو او د اسلامی امارت ملاتړ به جلب کړای شي.
- د مستحقو مراجعينو لپاره به د حق الاجرت د معافيت طرحه تقويه کړای شي.

**ستراتېژيک مقصد ۷**:د خودکفا او غيرانتفاعي صحي مرکزونو او روغتونونو رامنځته کول، چې د فيس اخيستنې او د عوايدو د بيا پانګونې او مصرف له لارې دوامداره خدمات وړاندې کړي، د خدمتونو کيفيت وساتي او د

عامه روغتیا سیستم مالي پایداري پیاوړې کړي.

**ستراتیژیکي مداخلې**

- د پایدار مالي او اداري ماډل تطبیق (د فیس‌محوره خدمتونو، شفاف مالي مدیریت او د عوایدو د بیا پانګونې میکانېزم پلي کول، څو صحي مرکزونه په دوامدار او غیرانتفاعي ډول خپل ځان وچلوي).
- د خدمتونو کیفیت او موثریت پیاوړتیا (د معیاري کلینیکي پروتوکولونو، بشري ظرفیت لوړولو او اغېزمن نظارت له لارې د باور وړ، عادلانه او لوړکیفیت صحي خدماتو تضمین)

## 6.4 د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول:

معرفي:

د روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو برخه دتخنیکی او رهبری کمیتی لخوا په دوه جلابرخو ( وقایوې او معالجوې) فرعي تخنیکي کمیتو وویشل شوې ددواړو کمیتو ستراتیژیاني په لاندې ډول تشریح کیږې :

### 6.4.1

### د وقایوي او ارتقایي روغتیایي خدمتونو وړاندې کول:

غیر ساري ناروغۍ لکه د زړه او رګونوناروغۍ، شکر، تنفسي ناروغۍ او سرطان د مړینو لوی لاملونه ګرځېدلي او ورځ په ورځ یې پیښې په ځانګړي ډول په پرمختلونکو هیوادونو کې په ډیریدو دي. د چاپېریالي روغتیا ستونزې لکه د اوبو ناپاکي او د هوا ککړتیا د نړۍ میلیونونه وګړي له خطر سره مخ کړي دي. لا هم میلیونونه ماشومان د خوارځواکي له امله له ودې پاتې کېږي. دا په داسې حال کې ده چې د روغتیا وضعیت د تغذیې، ساري ناروغیو، غیرساري ناروغیو، واکسین او چاپېریالي روغتیا له اړخه له ګڼو نورو ننګونو سره مخ دی. او د اسهالاتو، ملاریا، توبرکلوز، ایچ‌آی‌وي، هیپاتیټیس او ډینګې په څېر ناروغۍ د عامې روغتیا لپاره لوی ګواښ دی.

افغانستان کې د  خلور زرو څخه ډېر عامه روغتیایي مرکزونه د امارتی او نړیوالو  همکارانو په ملاتړ فعالیت کوي او د اسلامي امارت د حاکمیدو را وروسته په دې برخه کې یو څه اصلاحات راغلي دي لکه په بنسټیزو روغتیایي مرکزونو کې د نرس پر ځای د ډاکټرانو ګمارنه د روغتیایي پاملرنو کیفیت د ښه کولو په برخه کې یو پرمختګ دی. د واکسین خدمتونه د همدې روغتیایي مرکزونو له لیارې د هیواد ګوټ ګوټ ته رسیدلي دي خو د اوتریچ خدمتونو ته لا ډیره اړتیا لیدل کیږي.

د خوارځواکي دوه ګوني ستونزې موجودې دي په ماشومانو کې بیړنۍ او ځنډنۍ خوارځواکي دواړو پېښو سلنه یو څه لوړه ده (۱۰٪ او ۴۲٪) او د دې تر څنګ د وزن ډیروالی او چاغي د ۱۵ – ۲۵٪  خپرښت لري. په افغانستان کې لا

هم د گوزڼ (پولیو ) ناروغي د له مینځه تللو ځرک نه لګیږي او نورې ساري ناروغۍ لا هم د مړینو او ناروغیو اصلي لاملونه دي، په ځانګړي ډول ملاریا، توبرکلوز، او اسهالات.
د غیر ساري ناروغیو لپاره د تشخیص او درملنې وړتیا محدوده ده، او رواني ستونزې په چټکۍ سره پراخېږي. د اوبو او هوا ککړتیا، د ځځلو ناسم مدیریت، او د دندې د خوندیتوب وسایلو نه کارول د خلکو پر روغتیا منفي اغېزې لري.
د ټولنې په کچه د روغتیایي خدمتونو کمزوري، د خلکو د ګډون محدوده کچه، او د همغږي د کمزوري له امله د عامه پوهاوي او (اډووکسي )پروګرامونه مؤثر نه دي.
په دې برخه کې عمده ستونزې د روغتیایي خدمتونو له غیر عادلانه ویش، محدود لاسرسي، ټیټ کیفیت لرونکو او غیر مدغم خدمتونو سره تړاو لري.
همدا ډول د دې فرصـــتونو تر څنګ د ناروغیو د مخنیوي او کنترول په وړاندې لاندې ننګونې شـــتون لرې چې دا تګلاره یې په له مینځه وړلو کې پوره ونډه لرلی شي. د مدغمو روغتیایي پاملرنو پر ځای د عمودي پروګرامونو او پروژو موجودیت او فعالیت، د درملو د کیفیت ســـتونزې او د انتي‌بیوتیکونو بېځایه کارونه چې مقاومت زیاتوي، د مسـلکي پرسـونل د کموالي او ظرفیتونو ټیټوالی او د بیلابیلو سـکتورونو او همکارانو ترمینځ د همغږۍ او همکارۍ د روحیې کمزوري.
د لومړنیو روغتیایي خدمتونو ادغام او پراختیا د خدمتونو د لاسرسي د پراخولو مهمه برخه ده او بشپړ مدغم خدمتونو وړاندې کول د دې لامل کېږي چې ټول خلک، په ځانګړي ډول د سپینو ساحو اوسېدونکي او د لیرې پرتو سیمو اوسیدونکي له بنسټیزو روغتیایي خدمتونو برخمن شي. همدارنګه، زندانونه، کوچیان، مهاجرین، بېځایه شوي کسان او معلولین باید د ځانګړو لاربنودونو او مناسبو خدمتونو له لارې تر پوښښ لاندې راوستل شي. د سترګو، غاښونو، رواني روغتیا، ساري او غیر ساري ناروغیو خدمات هم په سیستم کې د مور او ماشوم د روغتیایي خدمتونو تر څنګ مدغم شي.

د انساني سرچینو په برخه کې ریښتینې او معقوله پانګونه د سیستم د بریا بنسټ جوړوي. د روغتیایي کارکوونکو لپاره منظم روزنیز پروګرامونه، د ټولنې روغتیایي کارکوونکو روزل او هڅول، او د مسلکي پرسونل لکه لابراتوار متخصصین، د سترګو او غاښونو ډاکټران، د تغذیې او رواني روغتیا کارکوونکي روزل، د ظرفیت لوړونې مهم ګامونه بلل کیږي، او د کیفیت ښه والي لپاره د دوامدارې ځارنې او ملاتړ تر څنګ عامه پوهاوی لوړول، د روغتیایي شوراګانو، متنفذینو، علماوو او د ټولنې د نورو اقشارو فعال ګډون د تل پاتې روغتیایي حالت ښه والي او د روغتیایي سیستم د بریا راز دی.
نو په همدې موخه د ناروغیو د مخنیوي او کنترول د برخې اړونده تګلارې په لاندې ډول وړاندې کیږي.
**سټراټیژیک هدف :** د ساري، غیر ساري، چاپیریال اړونده ناوړه حالاتو او دندې له امله را مینځ ته کېدونکو ناروغیو، معلولیتونو او مړینو راټیټول .

**ستراتیژیک مقصدونه:**

**ستراتیژیک مقصد ۱:** د سپینو ساحو په ګډون د هیواد ګوټ ګوټ ته د ناروغیو مخنیوي او کنترول او د روغتیایي ژوندانه د ښه والي په موخه د بشپړو لومړنیو روغتیایي پاملرنو او د ناروغیو د مخنیوي او کنترول خدمات رسول.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د لومړنیو روغتیایي مرکزونو او روغتیایي ځالو کچه جوړولو لیارې د خدماتو پیاوړتیا او غځول او د اړونده بستو نوي کول.
- د ګواښ لاندې وګړو لکه کوچیانو، راستنېدونکو، بې ځایه شویو خلکو او صعب العبور سیمو اوسېدونکو لپاره روغتیایي خدمتونو تقویه کول او روغتیایي مرکزونو جوړول
- د ټولنې پیاوړتیا، ګډون زیاتولو او د خدماتو مالکیت د احساس لوړولو په موخه د ټولنې په کچه د عامه پوهاوي په ګډون معیاري روغتیایي بستې لکه د ټولنې د لارې نقشه جوړول او د هغې سره سم خدمات وړاندې کول
- د نویو مرکزونو او بیا رغونې خدمتونو وړاندې کولو له لیارې د ټولو معلولینو د هوساینې د پرمختیا او ناامیدی د کمولو لپاره یو میکانیزم را مینځ ته کول، روغتیایي خدمتونه پیاوړي کول او ټولنیز پرمختګ کې یې ګډون یقیني کول.
- د سترګو د روندوالي د مخنیوي لپاره په ټولو اړونده کچو کې روغتیایي خدمتونه مدغم کول.
- د خولې او غاښونو د روغتیا د لوړاوي لپاره روغتیایي خدمات په ټولو کچو کې مدغمول.
- د رواني روغتیا لوړولو، رواني ملاتړ رامنځته کولو او رواني بې نظمیو او د ځان وژنو د مخنیوي په موخه د رواني روغتیایي خدمتونه په ټولو کچو کې ادغام او پیاوړي کول.

**ستراتیژیک مقصد ۲:** د یوې روغتیا د پیاوړتیا ساري ناروغیو د مخنیوي او کنټرول او د پولیو د جرړو ختمولو په موخه د انتان د مخنیوي او کنترول تدبیرونو تطبیق غځول، د واکسینونو پوښښ لوړول او پیاوړی کول.

**ستراتیژیکې مداخلې**

- د مالي ملاتړ او ښې همغږۍ له لیارې د ناروغیو د مخنیوي لپاره د واکسین پوښښ لوړول، کیفیت ښه کول او نوي واکسینونه معرفي کول
- د ساري ناروغیو د مخنیوي او کنټرول لپاره د پلان جوړولو، هڅوونکو او ظرفیت لوړوونکو میکانیزمونو له لیارې د موجودو سیستمونو پیاوړتیا ، د معلوماتي سیستم قوي کول او د اوټبریکونو مدیریت ته تیاری نیول.

- د روغتيايي سيستم په ټولو کچو کې د حساس او مقاوم نري رنځ د مخنيوي او کنټرول لپاره د ښېښو پېژندنې، درملنې، تعقيب او د معلوماتي سيستم پراخولو لپاره د ظرفيتونو لوړول او پياوړي کول.
- د ناقله ناروغيو لکه ملاريا، لشمانيا او ډينګي تبې د مخنيوي ، کنټرول او د وکتور مدغم خدمات وړاندې کول يقينې او پياوړي کول
- د HIV، هيپاټيټس او جنسي ناروغيو(STD &STI)د مخنيوي او کنټرول لپاره د ښېښو مخنيوي، پيژندنې او ريفر (ليږلو) خدمتونه په ټولو کچو کې د نويو روغتيايي بستو مدغمولو له ليارې پياوړې کول.
- د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو په ټولو کچو کې د انتان د مخنيوي او کنترول د لارښودونو جوړول د ظرفيت لوړول، او په روغتيايي مرکزونو کې دنظافت او پاکي پروګرامونو پياوړي او پلي کول.
- د نويو او له مينځه تللو سارې ناروغيو د بيا راڅرګنديدلو او د انتي بايوتيکونو د مقاومت د مخنيوي، کنترول، د خوړو او چاپيريال خونديتوب په موخه د انساني، حيواني او ژوند چاپيريال په برخو کې د مدغمو، څو اړخيزو او سره تړلو ګټورو تګلارو تطبيق يقيني کول.

**ستراتيژيک مقصد ۳:** د چاپيريال نه را ولاړيدونکو ناروغيو ، بيړنيو حالتونو ، د دندې اړونده سارې او غير ساري ناروغيو د مخنيوي او کنټرول په موخه د روغتيايي خدمتونو پياوړي کول او ګواښونه راکمول

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د سارې او غير ساري نارو غيو ، را مينځته کوونکو فکتورونو، د دندې او چاپيريال روغتيا د ساتنې په موخه د اصولو، طرزالعملونو، لايحو او لارښودونو جوړول او خپرول
- د غيرساري ناروغيو د مخنيوي او کنټرول اړونده روغتيايي پاملرنې د نويو بستو له لارې د هيواد په ټولو سيمو کې د موجوده روغتيايي سيستم په ټولو کچو کې مدغمول
- د چاپېريال روغتيا ته زيان اړوونکو فکتورونو ارزول، او د اصلاح په موخه يې پروګرامونه عملي کول
- د اړونده ادارو په همغږۍ د يو واحد ميکانيزم د جوړولو لارې د چاپيريال د ککړتيا د مخنيوي په موخه د صنعتي پارکونو، فابريکو او نورو هوا ککړوونکو سرچينو ارزونه، څارنه او کنټرول
- د خوندي چاپيريال د را مينځ ته کولو لپاره اړونده ادارو په همغږۍ د يو واحد ميکانيزم د جوړولو لارې د دندې روغتيا ساتنې په موخه د کارکوونکو څارنه، ارزونه او ساتنې تدابير نيول.
- پر خلکو د طبعي او غير طبعي افاتو او د عامې روغتيا بيړنيو حالاتو د روغتيايي اغيزو د راکمولو لپاره د روغتيايي سيستم په بيلابيلو کچو د مخنيوي، پيژندنې او ځواب وينې په برخو کې د پياوړې همغږي، څو سکتوري او څو اړخيزو تګلارو عملي کول.
- په پورته ټولو برخو کې د عامه پوهاوي پروګرامونو معرفي او پراختيا .

**ستراتیژیک مقصد ۴:**د تغذي حالت د ښه کولو او د خوارځواکۍ د مخنیوي او کنټرول په موخه د روغتیایي خدمتونو پیاوړي کول او د اړونده خدمتونو د پیاوړتیا لپاره ملاتړ رامینځ ته کول

**ستراتیژیکي مداخلې:**

- د مور شېدو تغذیې د ترویج او ملاتړ پروګرامونو پیاوړتیا، ترڅو ماشومان د ژوند په لومړیو میاشتو کې طبیعي تغذیه ترلاسه کړي.
- د ماشومانو او لویانو لپاره د تغذیې د ښه والي او د صحي خوړو د ارزښت په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونو پراخول.
- د ویټامینونو او منرالونو لکه (ویټامینA ، اوسپنه، فولیک اسید او آیودین) د وېش پروګرامونو پلي کول.
- د لومړنیو روغتیایي خدماتو له لارې د خوارځواکۍ د سکرینینګ، درملنې او راجع کولو منظم سیستم پیاوړتیا .
- د متنوع خوړو د ترویج لپاره د محلي ارزانه خوړو د تولید او مصرف ملاتړ.
- د تغذیې د ثانوي ستونزو مخنیوي لپاره د پاکو اوبو، نظافت، حفظ‌الصحې او روغتیایي پوهاوي پروګرامونو پیاوړتیا.
- د فقر کمولو او د خوړو د خوندیتوب د ملي پروګرامونو سره د همغږۍ زیاتول، ترڅو ټولې کورنۍ کافي خوړو ته دوامداره لاسرسی ولري.
- د سؤ تغذي حالت د څارنې، ارزونې او ښه والي په موخه په ټولو روغتیایي مرکزونو کې د تغذي خونو ( Breast Feeding Rooms) را مینځ ته کول.
- د تغذیې د څارنې او ارزونې د سیستم پیاوړتیا، ترڅو د تغذیې شاخصونه په دوامداره توګه تعقیب او ښه شي.

**ستراتیژیک مقصد ٦:** د میندو، نوزېږدو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو روغتیا (RMNCAH) د ښه والي او د مور او ماشوم د مړینې کچې د راکمولو په موخه د روغتیایي خدمتونو پیاوړي کول، خپرول او غځول.

**ستراتیژیکي مداخلې:**

- په مرکزي او ولایتي کچو د نسایي او ولادي مرکزونو جوړول او ظرفیت یې لوړول.
- په لرې پرتو او سپینو سیمو کې د مور او ماشوم خدمتونو ته د خلکو د لاسرسي ډېرولو په موخه د روغتیایي ځالو او روغتیایي پوستو له لارې د خدمتونو غځول.
- په لرې پرتو سیمو کې د ښځینه متخصصینو ګمارنه او ورته د اړینو اسانتیاوو برابرول.

- د ولایتونو په کچه د میندو، نوزېږدو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو روغتیایي خدمتونه د څار او ملاتړ له لارې پیاوړي کول.
- د روغتیایي کړنو او دودونو عاملو په موخه د علماء کرامو او مخورو مشرانو په همکارۍ د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره کول.
- د ټولګو، لارښودونو، ښوونیزو توکو د بیاکتنې، نوي کولو او جوړولو ترڅنګ د کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو پر لاره اچول.
- په ښوونځیو کې د روغتیایي خونو ځانګړي کولو، تجهیزولو، مسوول کس د ګمارلو او روزلو له لارې د لومړنیو مرستو امکانات برابرول او هم د پوهاوي لوړولو پروګرامونو له لارې د ښوونځیو د کارکوونکو او د نویو شاملېدونکو زده کوونکو لپاره د روغتیایي ارزونو تر سره کول.
- د ښوونځیو لپاره د تغذیې او روغتیا لارښود چمتو کول او پر هغه د ښوونکو او زده کوونکو روزل او خدمتونه تقویه کول.
- د هېواد د ماشومانو په روغتونونو کې د ECD لپاره د ځانګړي ځای، ماهر کس په ګوته کول او د هغه روزل، تر څو روغتون ته د رااستول شویو پېښو پالنه وکړي.
- د څارنې میکانیزمونو جوړولو، د شپږ میاشتنیو بیاکتنې ورکشاپونو جوړولو او د فیډبک سیستم د رامنځ ته کولو له لارې د څارنې سیستم پیاوړي کول.
- د مور، نوزېږدو، کوچنیانو او تنکیو ځوانانو د روغتیا د پروګرامونو په پلي کولو کې د سکتوري او نورو همکارانو د ملاتړ را جلبول او سکتوري ادارو همغږۍ پیاوړي کول.
- د RMNCAH کارکوونکو د ظرفیت لوړولو پروګرامونه کول .
- ځوانانو ته د ټېلفون (۱۲۰ شمېرې) له لارې د ناروغیو د مخنیوي، کنټرول او د ژوند د هوساینې لپاره د مشورو ورکولو امکاناتو ته پراختیا ورکول.

**ستراتیژیک مقصد ۵:** د ناروغیو مخنیوي، کنترول او مدیریت د پیاوړتیا په موخه د بین السکتوري او څو سکتوري همکاریو او همغږۍ روحیې پیاوړې کول.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د ناروغیو د مخنیوي او کنترول او لومړنیو روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا لپاره په ملي او ولایتي کچو د همغږیو او همکاریو یو میکانیزم رامینځ ته کول.
- د ناروغیو د مخنیوي او کنترول او لومړنیو روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا په موخه د کارکوونکو روزنه او د عامه پوهاوي پروګرامونو ترسره کول.

- د ناروغیو د مخنیوي او کنترول او لومړنیو روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا په موخه د ملاتړ راجلبولو (اډووکسي) پروګرامونو ترسره کول.
- د ناروغیو د مخنیوي او کنترول او لومړنیو روغتیایي خدمتونو د ښه والي په پار د څېړنو، ارزونو او ازموینو ترسره کول.
- د ناروغیو د مخنیوي او کنترول او لومړنیو روغتیایي خدمتونو د ښه والي او تعقیب په موخه څارنیز پروګرامونه تر لاس لاندې نیول.

### 6.4.2 دمعالجوي خدمتونو وړاندې کول :

**معرفي:**

د عامې روغتیا وزارت د معالجوي خدمتونو په برخه کې لاسته راوړنې لري، اوس په هیواد کې د زړه د ناروغیو درملنه او جراحي شتون لري، اورتوپیدی، د اعصابو جراحي، د سرطان ناروغۍ په تشخیص او درملنې او نورو برخو کی ښه پرمختګ شوی دی خو ستونزې لا هم موجودې دي.

په هیواد کې د لومړنیو، ثانوي او ثالثي روغتیایي پاملرنو په کچه د روغتیایی تسهیلاتو له لارې خدمتونه له لارې د وقایوي (BPHS) وړاندې کېږي. لومړني روغتیایي خدمتونه د روغتیایي خدمتونو اساسي کڅوړې طب عمومي ریاست تر چتر لاندې وړاندې کیږې.

ثانوي روغتیایي پاملرنې هغو روغتیایي پاملرنو ته ویل کېږي چې د متخصصینو لخوا ناروغانو ته وړاندې کېږي. دا کچه پاملرنې معمولا تخصصي خدمتونو ته شاملېږي چې د لومړنیو پاملرنو راجع/ریفر شویو ته هم وړاندې کېږي، دا د تشخیص، درملنې او مشورې پراخه سلسله رانغاړي چې د روغتوني خدمتونو د اساسي د لارښودنې په بنیاد په کې روغتیایي خدمتونه وړاندې کیږی.) EPHSکڅوړې (

ثالثي روغتیایي پاملرنې هغو ځانګړو روغتیایي پاملرنو ته ویل کېږي چې معمولا د هغو مرکزونو لخوا وړاندې کېږي چې پرمختللې ځانګړې طبي تکنالوژي لري. ثالثي روغتیایي پاملرنې د پیچلو طبي شرایطو لپاره د تخصصي خدمتونو د وړاندې کولو له لارې د روغتیایي پاملرنو سیستم کې مهم رول لوبوي. دلته دا ډاډ موجود وي چې هغه ناروغان چې تر ټولو ډېره اړتیا لري نو د پرمختللې ټکنالوژۍ، ډېرو روزل شویو متخصصینو او اړینو څېړنو له لارې خدمتونه تر لاسه کوي.

**په افغانستان کې روغتونونه**

روغتونونه د افغانستان د روغتیایي سیستم اساسي برخه ده چې لومړني، ثانوي او ثالثي روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. روغتونونه د رجعت ورکولو د سیستم برخه ګڼل کېږي چې هدف یې په ټولنه کې د مړینې کچه او د ناروغیو خپرېدل کمول دي.

روغتونونه د هغوی د کارکونکو شمیر، د بسترونو شمیر، کاري حجم او د خلکو لپاره وړاندې کېدونکو خدمتونو د پیچلتیا پر اساس په څلورو ګروپونو وېشل شوي دي:

**۱ . ولسوالۍ روغتونونه**(DH)

ولسوالۍ روغتون په کلیوالو سیمو کې خلکو ته لومړني روغتیایي او عاجل خدمتونه وړاندې کوي. ولسوالۍ روغتون د رجعی سیستم یوه لویه برخه ګڼل کېږي، چې د جامع روغتیایي مرکزونو او نورو روغتیایي مرکزونو د ناروغانو داخل بستر روغتیایي خدمتونو لپاره لومړنۍ مرجع او په عاجلو حالتونو کې مستقیمه مرجع ګڼل کېږي، کوم چې ځینې وخت دوهمه درجه روغتیایي خدمتونه هم وړاندې کوي.

په افغانستان کې نږدې ۹۴ ولسوالۍ روغتونونه شتون لري، چې ډیری یې د عاجلو قضیو لپاره فعاله جراحي برخه نه لري او همدارنګه اړتیا ته په کتو سره د هغوی شمیر هم لږ دی، په راتلونکي کې د اسلامی امارت مشرتابه د ژمنتیا او پاملرنې په اساس د هیواد په ټولو ولسوالیو کې د عمومي روغتونونو په نوم روغتونونه جوړیږي او منابع ورته ځانګړې شوې دي.

عامې روغتیا وزارت غواړي د ولسوالۍ روغتون بڼه له اوسني حالت نه عمومي روغتون (General hospitals) ته واړوي، چې په دې سره د روغتون عمومي تشکیلاتي جوړښت او د خدمتونو وړاندې کولو ساحه پراخېږي. عامې روغتیا وزارت غواړي په ټول هیواد کې د ولسوالیو په کچه ۳۱۸ عمومي روغتونونه (GHs) جوړ کړي (تفصیل یی د BPHS & EPHS) په نوي شویو ټولګو کې چې اوس یې په نوي کولو تخنیکي ټیمونه کار کوي موندلی شئ.

**۲ . ولایتي روغتونونه**(PH)

ولایتي روغتون په حقیقت کې د ولایتي روغتیایي سیستم لپاره د رجعت ورکولو مرکز دی. ولایتي روغتون په ماهیت کې د ولسوالۍ روغتون څخه ډېر توپیر نه لري او د څېنو اضافي ځانګړتیاو په درلودو سره نږدې ورته کلینیکي روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. ولایتي روغتون په اصل کې د میرمنو او ماشومانو د مړینو د کچې کمولو لپاره دی، همدارنګه پر هغو ناروغیو تمرکز کوي چې د میرمنو او ماشومانو لپاره معیوبیتونه او مړینې رامنځته کوي، د اسلامي امارت په راتګ سره ځینې ولایتي روغتونونه د خدمتونو او بسترونو په لحاظ پراخ شوي دي.

ولایتي روغتون (PH) د روغتیا د رجعت ورکولو د سیستم یوه لویه برخه ګڼل کېږي: او د ولسوالۍ روغتونونو او نورو روغتیایي مرکزونو څخه د ناروغانو د قبلولو مرجع ده.

په افغانستان کې دا مهال ۲۷ ولایتي روغتونونه شتون لري او دا روغتونونه په اصل کې عاجل روغتونونه ګڼل کېږي، نو ځکه پېچلې جراحۍ نه ترسره کوي، خو د عمومي جراحۍ ناروغانو، عمومي داخلی، ماشومانو، مېرمنو او زېږون خدمتونو لپاره د بستر خدمتونه او عاجل خدمتونه وړاندې کوي. ځینې ولایتي روغتونونه د اکمال تخصص پروګرام به درلودلو سره تخصصي پیچلي خدمات هم وړاندې کوي.

**۳ . حوزوي روغتونونه**(RH)

حوزوي روغتون (RH) په حقیقت کې یو رجعتي روغتون دی چې یو شمیر متخصصین لري او د ارزونې، تشخیص او درملنې مرجع ده. حوزوي روغتون عاجل او د بستر خدمتونه همدارنګه لومړني، دوهمې او ثالثی روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي، همدارنګه اضافي تشخیصي خدمتونه لکه CT سکن، اولتراساؤنډ، انډوسکوپي خدمتونه او پرمختللې لابراتواري معاینات وړاندي کوي. په هېواد کې نږدې اته حوزوي روغتونونه (بلخ, کندز, قندهار, هرات, پکتیا، ننګرهار، غزنی او برچی ۱۰۰ بستریزه) شتون لري په دې روغتونو کې هم د تخصص او روزنې پروګرامونه پلې کیږی.

**۴ .تخصصي او ثالثي روغتونونه**

تخصصي روغتونونه په حقیقت کې د ثالثي روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره عالي مرجع ده، چې عمدتاً په کابل کې موقعیت لري. د دې روغتونونو ډیری یې تخصصي او روزنیز پروګرامونه پلي کوي، په دې روغتونونو کې تریننر متخصص او ترینی شتون لري، چې د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو غوره کیفیت ته ډیره ښه پاملرنه کوي. دا روغتونونه د روغتیایي کارکوونکو لپاره د روزنې او زده کړې کورسونه هم په لاره اچوي او همدارنګه د ولایتي او حوزوي روغتونونو لپاره د رجعتي روغتونونو په توګه عمل کوي.

**ستراتیژیک هدف:** د خصوصي سکتور په ګډون په ټولو روغتیایي کچو او برخو کې د روغتیایي او تغذي خدمتونو شتون، لاسرسی، د کارونې او کیفیت پایښت، پراختیا او ښه والی.

**ستراتیژیک مقصدونه:**

**ستراتیژیک مقصد ۱:** د اړوندو ځانګو ملاتړ، کیفیت لوړول ، تقویت، مشري، همدا راز په روغتیاي مرکزونو کې د طبابت اخلاق، د ناروغ محوری تقویت، له روغتیایي خدمتونو څخه د ټولیز رضایت د کچې ښه والی.

### ستراټيژيکې مداخلې

- د ټولو ځانګو د پلانونو په ځانګړې توګه د کيفيت د ښه والي پلانونو، د ناروغانو د ساتنې او د طبي تېروتنو د مخنيوي ملاتړ، پراختيا او پلي کېدلو څخه ډاډمنېدل.
- په روغتيايي مرکزونو کې د طبابت اخلاقو د ښه والي په موخه د روغتيايي کارکوونکو هڅونه او روزنه
- د هېواد په روغتونونو او روغتيايي تسهيلاتو کې د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د نويو شويو(Update) معيارونو او لارښودونو، پروټوکولونو او طريقو شتون او پراختيا.
- د معياري او باکيفيته خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د جدي او عاجلو پاملرنو پراختيا
- د ثالثي روغتيايي خدمتونو د مجموعې ( Tertiary Package of Hospital Services - TPHS ) معرفي کول.
- د ټولنې ضرورتونو ته د ځواب ويلو په خاطر د معلوماتو راټولولو او د لازمو اجرآتو د ميکانيزم را منځته کول.

**ستراټيژيک مقصد ۲:** د غوره معالجوي خدمتونو وړاندې کولو لپاره د روغتيايي مرکزونو/ځانګو رامنځته کول.

### ستراټيژيکې مداخلې:

- د غوره معالجوی خدماتو د وړاندې کولو لپاره د روغتيا مرکزونو / ځانګو رامنځته کول
- د هډوکو د مغز پيوند مرکز رامنځته کول
- د پښتورګو ناروغيو د معالجوی مرکز ( Kidney Center) رامنځته کول چې کولی شي يورولوژي، نفرولوژي، هيموديالېز او د پښتورګو د پيوند خدمات وړاندې کړي.
- له خصوصي سکتور سره په همغږۍ په مرکز کې د انکولوژي لپاره د راديوتراپۍ مرکز رامنځته کول.
- د اړتيا لرونکو روغتيايي مرکزونو لپاره د پرمختللو راديولوژي تجهيزاتو ( MRI, CT scan, Fluoroscopy, Mammography, Doppler US, DR X-ray, Lithotripsy) تکميل.
- په هېواد کې د مخدره موادو څخه متاثره خلکو لپاره د داخل بستر روغتيايي خدمتونو پراختيا.
- پر روغتونونو د بار کمولو په موخه په مرکز او زونونو کې د مرکزي پولي کلينکونو را منځته کول.
- د روغتونونو تجهيز، د خدمتونو پراختيا او د کيفيت لوړوالي لپاره ريفورم را منځته کول
- معالجوي خدمتونو ته د لاس رسي لپاره په ټولو ولسواليو کې نوي عمومي روغتونونه جوړول
- په ښاري سيمو کې د خيريه بنسټونو، خصوصي پانګوالو او نړيوالو تمويلوونکو په مټ خود کفا غير انتفاعي روغتونونه جوړول.

- د هیواد په بیلابیلو سیمو، او روغتونونو کې د جدي مراقبت ځانګې او ټروما مرکزونه جوړول.

**ستراتیژیک مقصد ۳:** د روغتیايي خدمتونو د ښه والي په برخه کې د معاصرې ټکنالوژۍ کارول

**ستراتیژیکي مداخلې:**

- د روغتیا په برخه کې د همکارو هېوادونو، مؤسسو او روغتیايي مرکزونو تر منځ د روغتونونو څخه د ټیلی میډیسن خدمتونو پراختیا او د هېواد اړتیا لرونکو ولایتونو او خلکو ته د دې خدمتونو وړاندې کول.
- په روغتونونو کې د بریښنایي طبي ریکارډ سیستم رامنځته کول

**ستراتیژیک مقصد۴***:* د روغتیايي خدمتونو د کیفیت لوړولو او خلاوو د پیداکولو او د هغوی د وړاندیز شویو حل لارو لپاره څارنه او ارزونه

**ستراتیژیکي مداخلې:**

- د اړوندو ادارو په همغږۍ سره د روغتونونو د ارزونې سیستم پراختیا
- فیډبکونو ته په پاملرنې سره د روغتونونو د ظرفیت لوړول
- د ناروغ د رضایت کچې د ارزونې سیستم رامنځته کول

## 6.5 خواړه، درمل او روغتیايي محصولات

عامې روغتیا وزارت د خلکو د روغتیا په تامین، دخوړو، درملو، او طبي محصولاتو په کیفیت ،ساتنه ، د سیستمونو په موثر تنظیم کې اساسي او مهمه ونډه لري. د پرمختللو هیوادونو تجربو ښودلې چې منظم او قوي سیستمونه د قوي، قانوني، جامع اډانو/چوکاټونو، بین المللي معیارونو او موثرو نظارتي تګلارو په لرلو سره د محصولاتو د کیفیت ښه کولو، د غذا او درملو برخه کې پرمختګ، اعتماد رامنځته کولو او متداومې پرمختیا سبب کیږي.
د هېواد د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري، لکه د بنسټیزو اصلاحاتو ترسره کول، د مسلکي ظرفیتونو لوړونه، د خوړو او درملو لپاره د جامع لارښودونو جوړول، د جوازونو د توزیع اسانتیا، د مؤثرو ارزونو سیستمونو رامنځته کول او د وارداتي او تولیدي محصولاتو د ثبت په برخه کې پرمختګونه، دا لاسته راوړنې د سیستمونو د انکشاف او تنظیم په برخه کې د قوي ارادې ځرګندونه کوي.
ځینې محدودیتونه لکه د واحدو ډیجیټلي سیستمونو نه شتون چې ظرفیت لوړونې ته اړتیا لري ، او د لابراتوارونو تجهیز او اعتبار ورکول، دخوړو او درملو برخه کې اړتیاوې او نورو ډیرو برخو کې بنسټیزو اصلاحاتو ته اړتیا لیدل کیږی.

د روغتيا ملي تګلارې جوړول او اړوند ساحه کې د منسجم چوکاټ رامنځته کول د خوړو،درملو او طبې محصولاتو لپاره لوې قدم دی.

دغه سند د بنسټيزو جوړښتونو، سيستمونو او پروسو د قوی کولو عملې لاره ده چې يو مشخص نظم جوړوې چې د يو دوامدار، منظم، همغږي او موثر سيستم را منځته کولو ته زمينه برابروي، د خلکو روغتيا ته ارتقا او ټوليز اعتماد ورکوي او د داخلي ظرفيتونو لوړولو سبب ګرځې.

ددی عملي کول دعامې روغتيا وزارت ملي او بين المللي شريکانو او خصوصې سکټور ګډې او موثرې همکاری ته ضرورت لري، ترڅو په جامع او دوامداره ډول عامې روغتيا برخه ځواب ويونکې اووسې.

**سټراتيژيک هدف:** د خوړو، درملو، روغتيايي محصولاتو او د خدمتونو تنظيم معياري کول او بنسټيزه پراختيا

**سټراتيژيک مقصدونه:**

**سټراتېژيک مقصد١:** د خوړو ، درملو او طبي محصولاتو جوړښتونو، سيستمونو او تنظيموونکو پروسو تقويت

**سټراتيژيکې مداخلې**

- د خوړو او درملو د معينيت اداري جوړښتونو مناسب او مؤثر تنظيم
- د تنظيموونکو فعاليتونو غيرمتمرکز کول
- د خوړو او درملو د اسنادو د بهتر تنظيم لپاره چوکاټ جوړول
- د درملو، طبي محصولاتو او غذايي محصولاتو د فعاليت لپاره د جوازونو وېش پياوړی کول
- د لابراتوارونو ظرفيت لوړول او هغوی ته اعتبار ورکول
- د غذايي موادو د آزموينې لپاره پياوړی نظارتي لابراتوار جوړول
- د درملو او خوړو محصولاتو د ناوړه پېښو د ثبت او راپور ورکولو سيستم پياوړی کول
- د قوانينو او مقرراتو د رعايت او نظارت پياوړتيا
- د خوړو او درملو د امنيت، مصونيت، کيفيت، موثريت او ارزونې مطالعاتو پياوړتيا
- د اشتهاراتو د مخنيوي او کنټرول سيستم تقويه کول
- دخوړو او درملو دارزونې سيستمونو پياوړتيا او بازار ته درعرضه کولو داجازي بهير

**سټراتيژيک مقصد٢:** د مارکيټ کنټرول او د غذا او درملو تاسيساتو فعاليتونو څخه موثره څارنه

**سټراتيژيکې مداخلې**

- د درملو او غذايي محصولاتو د صادراتو او وارداتو د کنټرول سيستمونو تقويه کول
- د خوړو او دوايي محصولاتو د قاچاقي او غير رسمي وراداتو مخينوی

- د خوړو او دوایي تاسیسیاتو څخه موثر نظارتونه اجراکول
- د خوړو او دوایي موادو د تعقیب او څارنې او بیرته یادښت سیستم تقویه کول
- د دوایي اوغذایي محصولاتو د سرویلانس برنامو تقویه
- د دوایي او غذایي محصولاتو د قیمتونو د کنټرول سیستمونو اصلاح او ښه والې
- دخوړو او درملو دتاسیساتو له لورې دښو کړنلارو درعایت څخه ډاډ ترلاسه کول

**ستراتیژیک مقصد ۳:** د اساسي دوایي خدمتونو څخه معقوله ګټه اخستنه، د لاسرسي ښه والی او مدیریتي پاینښت او اصلاح

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د دوایي خدمتونو دوامداره مدیریت او له دوا څخه د معقولې ګټې اخستنې رواجول
- د دوایي معلوماتو د مدیریت سیستم ( PMIS) جوړول
- په ملي کچه د درملو د تخمین او پلانولو تقویه کول
- د دوایي د معالجوي کمیټو تقویه کول
- پر الیکترونکي ډیجیټل نسخو لیکلو ټینګار او د ناوړه استفادې مخنیوي په پار نظارت ترسره کول
- د هیواد په کچه د ګیاهي درملو پر استعمال څیړنې ترسره کول

**ستراتیژیک مقصد ۴:** د سنتې طبابت اړوند د دوایي محصولاتو د کیفیت، موثریت اومصونیت څخه اطمینان حاصلولو لپاره د قوې تنظیموونکي سیستم جوړول

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د سنتي طبابت تنظیم اړوند قانوني چوکاټ جوړول
- د سنتي طبابت اړوند بستونو تخنیکي ظرفیتونو لوړول
- د سنتي طبابت اړوند د دوا اوغذایي محصولاتو د تولید او تورید له موثریت، مصونیت او کیفیت څخه اطمینان حاصلول
- د سنتي طبابت اړوند له درمولو معقوله ګټه اخیستنه یقینی کول
- د سنتي طبابت اړوند انستیتوت جوړول

**ستراتیژیک مقصد ۵:** له داخلې تولیداتو (غذا ، دوا او طبي محصولاتو) ملاتړ

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- دتشويقي پاليسيو داسانتيا له لارې دکورنيو توليداتو پراختيا اوزياتوالې.
- دتکنالوجي دليږد دترويج لپاره دزمينې برابرول او له نړيوالو توليدونکو سره همکارې.
- د درمليز صنعت لپاره دتخصصی صنعتي پارکونو جوړول.
- د درمليز توليدپه برخه کې دنويو پانګونولپاره دمالياتو راکمول.
- دکورني توليد سره ورته درملو دزيات واردولوپه پار دحمايويتعرفو وضع کول.
- دخامو موادو،تجهيزاتو او توليدي ماشين الاتو د واردولو لپاره په گمرکی بهير کې اسانتيا رامنځته کول.
- دښه توليدکړنلارې (GMP) په رعايت کولوسره دداخلي توليدونکو اړ ايستل
- دواردااتو په وړاندېد اتکاکمولو لپاره دکورنيو خامو موادو دتوليد ملاتړ

**ستراتيژيک مقصد ٦ :** د خوړو او درملو چارو د خدمتونو کيفيت د کچې د پراختيا لپاره د سيستمونو پياوړتيا

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د خوړو او درملو د تنظيمي فعاليتونو لپاره د برېښنايي جوړښتونو پياوړتيا.
- دتنظيمونو بهيرونو انلاين کول په شمول دفابريکو اوبهرنيو اقلامو ثبت او جواز ورکول
- دپلټنې دپايلو ثبت لپاره په ټول هيوادکې دانلاين پلټنې ډيټابيس رامنځته کول
- د درملواو روغتيايي محصولاتودکيفيت کنترول لابراتوار کې LMISد ډيټابيس نصبول.
- دتنظيمي فعاليتونو په تطبيق کې دښه والي لپاره دنويوبرېښناييي سيستمونو او بدلونونو څخه گټه اخستل
- دخوړو او درملو دتنظيمي فعاليتونو لپاره دمعلوماتو دمديريت ديو مرکزي سيستم رامنځته کول

## 6.6 روغتيايي معلوماتو سيستم

**معرفي:**

روغتيايي معلوماتو سيستم د روغتيا د سکتور له خورا مهمو برخو څخه ګڼل کېږي. ياد سيستم د روغتيايي ارقامو او معلوماتو د راټولولو، ساتنې، تنظيم، تحليل ، تجزيې او مديريت مسؤليت په غاړه لري.
روغتيايي ارقام د هېواد په کچه د ټولنې او ټولو روغتيايي مرکزونو څخه راټولېږي، او راټول شوي ارقام د غوره پرېکړو او اغيزمنې ځارنې لپاره کارول کېږي.
د ستراتيژيکو تګلارو د جوړولو لپاره اړينه ده چې د روغتيايي معلوماتو سيستم د شواهدو او مدارکو پر بنسټ باکيفيته، کره، پر وخت او د باور وړ ارقام توليد کړي، او له تحليل او ارزونې وروسته يې د ګټې اخيستنې لپاره وړاندې کړي.

د پر وخت او کره معلوماتو په مرسته کولای شو د روغتیايي خدمتونو کیفیت لوړ کړو او اغېزمنې پالیسۍ او پلانونه جوړ کړو.
که  د روغتیايي معلوماتو  مدیریتي سیستم ته وکتل شي په لومړي ځل په ۲۰۰۳ کال کې د عامې روغتیا وزارت اړونده روغتیايي مرکزونو کې پلي شو. هغه مهال په ډیره کمه کچه روغتیايي مرکزونو خپل ارقام او کړنې وزارت ته وړاندې کولې، چې دا کچه په ۲۰۰۵ کال کې تر ٪۷۰ پورې لوړه شوه.
د عامې روغتیا وزارت د څارنې، پلټنې او روغتیايي معلوماتو عمومي ریاست د روغتیايي ارقامو د مدیریت دنده په غاړه لري، چې د څارنې، ارزونې، د روغتیايي معلوماتو مدیریتي سیستم، سرویلانس او حیاتي احصایې ډیپارتمنتونه یې تر چتر لاندې فعالیت کوي، چې په خلاصه ډول د هرې څانګې کړنې په لاندې ډول دی:
**روغتیايي معلوماتو مدیریتي سیستم (HMIS):** د روغتیايي معلوماتو مدیریتي سیستم د HIS تر ټولو لویه برخه جوړوي، چې د ارقامو او معلوماتو منظم راټولول، تحلیلول، تجزیه کول، ساتل، او نشرول  یې اصلي دندې  دي  او همدارنګه دارقامو راټولولو له پاره د ابزارو ترتیبول د نومړي سیستم برخه ده. ددې سیستم لپاره په ملي کچه د DHIS2 اپلیکیشن کارول کېږي، چی له وړاندې ورته ټاکل شوي معیاري شاخصونه ورکړل او محاسبه شوي تر څو په ساده ډول یې وښايي. ددې پوستالي یا سافټویر څخه د اوس لپاره د معلوماتو د زیرمتون په ډول هم استفاده کیږي.

**د څارنې څانګه:** د څارنې څانګه د ملي او معیاري چکلیستونو په مرسته د روغتیايي خدمتونو له وړاندې کولو څارنه ترسره کوي.
**د ارزونې او د ارقامو د تحلیل او تجزیې څانګه:** دغه څانګه د روغتیايي پروګرامونو او پروژو د ارزونو، کتنو، سروې ګانو او د روغتیايي سیستم پورې اړوندو څېړنو مسؤلیت لري.
**د سرویلانس څانګه:** د سرویلانس څانګه د روغتیايي معلوماتو د سیستم یوه برخه ده. دا سیستم په دوره‌يي راپورونو ولاړ دی، چې په کې پېښې راپورونه (Event Based Surveillance) او اونیز راپورونه ( Indicator Based Surveillance) شامل دي، او د هېواد  له ٦۰۰ څخه د زیاتو روغتیايي مرکزونو سنټینل (Sentinel) سایټونو څخه ترلاسه کېږي.  دغه سیستم همدارنګه په لسو ولایتونو کې د انفلونزا د جنیټیکي بدلونونو اړوند معلومات راټولوي.
**حیاتي احصایه**(Vital Statistics) : حیاتي احصایه د روغتیايي معلوماتو د سیستم یوه ځانګړې څانګه ده، چې د مرګ د علت طبي تصدیق، د زیږون ثبت، د میندو او نویو زیږېدلو ماشومانو د مړینې څارنه او ځواب(MNDSR) ، او د شفاهي مړینې د ارزونې (Verbal Autopsy) د ترسره کولو مسؤلیت لري.

**ستراتیژیک هدف**
د شواهدو پر بنسټ د تصمیم نیونې د دود بنسټیزول، چې د دقیقو، نویو، باوري او منظمو معلوماتو او شواهدو په مرسته د روغتیايي سیستم په ټولو کچو کې پلي شي.

**ستراتیژیک مقصدونه:**

**ستراتیژیک مقصد ۱:** د روغتیایي معلوماتي سیستم ټولې برخې ډیجیټلي سیستم ته اړول او د برېښنایي روغتیایي سیستمونو (EHR, EMR) رامنځته کول او ادغام تر څو له دې لارې د معلوماتو دقت، لاسرسی او تحلیلي وړتیا لوړه شي او د شواهدو پر بنسټ پرېکړې پیاوړې شي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د روغتیایي ارقامو اومعلوماتو لایحه جوړول ترڅو د روغتیا وزارت وکولای شي د روغتیایي معلوماتو له لارې د خلکو د روغتیا او هوساینې د پرمختګ او د دوامدارې ودې د موخو د لاسته راوړلو ملاتړ وکړي.
- د روغتیایي معلوماتي سیستم د ټولو برخو تدریجي ډیجیټلي کېدل.
- د شاخصونو او پېښو پر بنسټ د سرویلانس سیستم پیاوړتیا، ترڅو د عامې روغتیا، حیواني روغتیا او محیط پورې اړوند پیښې چې د انسانانو روغتیا ته ضرر رسوي کشف او راپور کړي.
- د نړیوالو معیارونو سره سم د نفوس په سطحه د روغتیایي سروې ګانو او څېړنو څخه منظمه څارنه.
- د ICD-11 له مخې د مړینې د علتونو راپور ورکولو پیاوړتیا (د روغتیایي مرکزونو دننه او بهر).
- د معلوماتو کیفیت: د څارنې او پلټنې ریاست د دقیقو، بشپړو او شفافو معلوماتو د راټولولو او د کیفیت د تضمین مسوول دی.
- د روغتیا د حالت شاخصونه: د نفوس د روغتیایي وضعیت، د ناروغیو مخنیوي، د خدمتونو کیفیت او د روغتیایي پرمختګ د ارزونې لپاره معیاري شاخصونه باید وټاکل شي.
- حالاتو ته په کتو د HMIS په سیستم کی بدلون او منطقي کول چې خصوصي سکتور او ثانوي او ثالثي روغتونونه هم رانغاړي.
- د روغتیایي معلوماتي سیستم د ډیجیټل کولو او بریښنایي کولو لپاره د قانوني چوکاټ شتون.

**ستراتیژیک مقصد ۲:** د روغتیایي معلوماتي سیستم پیاوړتیا، تر څو د روغتیایي معلوماتو د راټولولو، تحلیل، شریکولو او کارونې بهیر منظم شي او د پرېکړو ملاتړ وکړي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- ټول دولتي، غیر دولتي او خصوصي روغتیایي مرکزونه مکلف دي چې د ټاکل شوې مودې په دننه کې د عامې روغتیا وزارت ته دقیق او باوري روغتیایي معلومات، په ځانګړي ډول د ساري ناروغیو او بیړنیو حالاتو په اړه، په خپل وخت راپور کړي.

**ستراتیژیک مقصد۳:**

د څېړنو او ارزونې د ظرفیت بنسټیزول، تر څو دروغتیایي پروګرامونو او خدمتونو د اغیز د معلومولو لپاره په ښه کیفیت څېړنې، مطالعات او ارزونې ترسره شی .

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د څېړنيزو مرکزونو پياوړتيا
- د روغتيايي پروګرامونو او فعاليتونو کمي او کيفي ارزونه، چې ددې ارزونو پايلې به د پاليسيو او ستراتيژيو د بدلون لپاره وکارول شي، او که کوم پروګرام مطلوبه پايله ورنه کړي، نو اړين بدلونونه به پکې راوستل کېږي.
- ټولې روغتيايي سروېګانې، څېړنې او ارزونې بايد د عامې روغتيا وزارت د داخلي ارزونې بورډ (IRB) له تصويب وروسته ترسره شي.

**ستراتيژيک مقصد ۴:** د روغتيايي معلوماتو د حکومتولۍ پياوړتيا، تر څو ټول راټول شوي معلومات د عامې روغتيا وزارت د لارښودونو له مخې معياري شي او يوازې د رسمي تصويب وروسته خپاره شي.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د روغتيايي معلوماتو د ملکيت او جوړښت تعريف؛ ټول روغتيايي معلومات د عامې روغتيا وزارت ملکيت دی، او هره اداره بايد د څارنې او ارزونې رياست سره همغږي وکړي.
- د شخصي او حساسو معلوماتو خونديتوب او محرميت ساتنه د څارنې او ارزونې رياست مسؤليت دی.
- د روغتيايي سيستم د فعاليتونو منظمه بيا کتنه د ښکېلو اړخونو په ګډون (تر لږه يو ځل په کال کې) ترسره شي، ترڅو د خدمتونو کيفيت، اغېزمنتيا او همغږي وڅېړل شي.

**ستراتيژيک مقصد ۵:** د روغتيايي پروګرامونو او مداخلو منظمه څارنه، ترڅو د ټاکل شوو موخو او اهدافو د پرمختګ کچه وارزول شي او د پاليسيو د عملي اغېزمنتيا ارزونه وشي.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د روغتيايي پروګرامونو او فعاليتونو منظمه څارنه او د هغوی د لاسته راوړنو ارزونه.
- د روغتيايي مرکزونو جوړول، پراخول او د خدماتو وړاندې کول يوازې د عامې روغتيا وزارت په همغږۍ او تصويب سره ترسره کېدای شي.

## 6.7 د مالي تمو يلوونکو اوکاري شريکانو ښکېلتيا

**معرفي:**

د روغتيا تګلارې د تمويلوونکو او شريکانو د ښکېلتيا موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې او دا يې د يوې مستقلې او اوومې ستراتيژيکې موخې په توګه تعريف کړې ده. په عملي لحاظ د تمويلوونکو او شريکانو د مشارکت لپاره

د تطبيقي او جوړښت لاندې تشکيلات–لکه کاري ډلې، مشارکتي پلاوي، او عمومي-خصوصي ډيالوگ فورمونه–په پام کې نيول شوي چې د تګلارې په تطبيق، او ارزونې کې به ملي او نړيوال شريکان فعال وساتي او نوموړي بنسټونه به د پريکړو مشروعيت او ګډ مالکيت پياوړی کوي. د عامې روغتيا وزارت په شريکانو کې د بېلابېلو هېوادونو، تمويلوونکو ادارو او ملګرو ملتونو د ادارو په شمول ملي او بين المللی، خصوصي سکتور او بېلابېلې طبي او روغتيايي اتحاديې شاملې دي.

په ستراتيژيک لحاظ د عامې روغتيا وزارت د تمويلوونکو او شريکانو د ښکېلتيا په برخه کې هم لاسته راوړنې لري، هم ننګونې او هم فرصتونه.

په تېرو څلورو کلونو کې د افغانستان اسلامي امارت له خوا روغتيايي پوښښ پراخ شوی، کاري فرصتونه رامنځته شوي او امنيت ټينګ شوی، چې دا ټول د روغتيايي خدمتونو د عادلانه توزيع لپاره خورا مهم دي. همدا رنګه د روغتيايي سېسټم همغږی، رهبري شوی او حمايتي نظارتي ميکانېزم رامنځته شوی دی او د نوښتي پروژو ملاتړ او د تطبيق حالت هم پياوړی شوی.

موږ له يو شمېر ننګونو سره هم لاس او ګرېوان يو د بېلګې په توګه، د نړيوالو ادارو او تمويلوونکو شفافيت او حساب ورکونه، انکشافي روغتيايي مرستې، د روغتيايي پروګرامونو پايښت/Sustainability ، له نړيوالو ادارو او تمويلوونکو سره منظمه او سېسټماتيکه همغږي، د عامې روغتيا وزارت Stewardship and Ownership /مالکيت، رهبری او څارونکی نقش، د موجوده سرچينو څخه مؤثره او مثمره استفاده، او د ټولنې باور او رضائيت. دا ټولې هغه برخې دي چې ننګونې په کې شتون لري.

د فرصتونو په برخه کې مهمه دا ده چې تمويلوونکي او نړيوالې مؤسسې وجود لري او په دې ډول نړيوالې سرچينې د روغتيايي خدمتونو د پوښښ په زياتولو کې نقش لري. بله دا چې د لومړنيو او دويمو روغتيايي خدمتونو په وړاندې کولو کې د نړيوالو ژمنو او مرستو موجوديت هم يو ښه فرصت دی.

د ټولنې، ملي او نړيوالو شريکانو تر منځ د مؤثرې همغږی له لارې، عامې روغتيا وزارت د يو ځواب ويوونکي روغتيايي سيستم پياوړتيا او د خلکو د روغتيا د دوامدار ملاتړ تضمين ته ژمن دی. او د دې تګلارې له لارې به د عامې روغتيا وزارت او شريکان په ګډه کار کوي، ترڅو معياري ، اغېزمن او دوامداره روغتيايي خدمتونه برابر کړي.

**ستراتيژيک هدف:**

د همغږۍ او ملاتړ شفافې پروسې له لارې د تمویلوونکو، ملي او نړیوالو شریکانو مرستې ته وده او ډاډ ترلاسه کول تر څو د افغانستان ټولنې ته د دیني اصولو او ښو دودونو سره سم د هېواد په روغتیایي سېسټم کې په اغېزمنه او ګټوره توګه معیاري خدمتونه وړاندې شي.

### ستراتیژیک مقصدونه:

**ستراتیژیک مقصد ۱:** دعامې روغتیا وزارت به د سیمه ایزو او نړیوالو سازمانونو سره د همکارۍ کچه لوړوي ترڅو د روغتیا په برخه کې د نړیوالو غوره تجربو او کړنو انتقال او پلي کول یقیني کړي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د عامې روغتیا وزارت او شریکانو تر منځ د معلوماتو تبادلې او د تجربو شریکولو لپاره یو منظم او جواب ویوونکی میکانیزم جوړول، چې د راټولو شوو معلوماتو او تجربو څخه د روغتیایي سیستم د پرمختګ لپاره مؤثره ګټه پورته شي.
- دوامداره ارزونه ترسره کول او د عامې روغتیا سکتور د ابتکاري کمېټې جوړښت ترتیبول، تر څو شریکې تجربې او ابتکارات وڅېړل شي او د روغتیایي سیستم په اصلاحاتو کې مدغم شي.
- د موجوده معلوماتو او تجربو پر اساس، د عامې روغتیا وزارت لپاره د اړتیاوو او لومړیتوبونو په رڼا کې د ملي او نړیوالو شریکانو سره د همکارۍ له لارې د ستراتیژیک پلان جوړول.

**ستراتیژیک مقصد ۲:** ملي او نړیوال مرسته کوونکي او شریکان به د خپلو اجرآتو د روڼتیا کچه لوړوي او په مؤثره توګه به ټولنې، ملي او نړیوالو بنسټونو ته ځواب ورکوونکي وي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د ټولنې او ملي ادارو د فعال ګډون لپاره، د هغوی اداري، مالي او تخنیکي وړتیاوې لوړول ترڅو د پروګرامونو او پروژو په ډیزاین او تطبیق کې مؤثر ګډون وکړي او د پروګرامونو او پروژو اغیزمنتیا او منل یقیني کړي.
- د پروګرامونو او پروژو د تطبیق په ټولو پړاوونو کې د منظمې ارزونې او نظارت بهیر پیاوړی کول، چې پکې د فعالیتونو او مالي راپور ورکولو دقیقه څارنه شامله وي، ترڅو د راپیدا شویو ستونزو پر وخت اصلاحات وشي.
- د ټولنې، ادارو، مؤسساتو او تمویلوونکو د اجرآتو او مصارفو د باور لوړولو لپاره یو روڼ او ډاډمن میکانیزم جوړول او پلي کول چې شفافیت او حساب ورکونه یقیني کړي.

**ستراتیژیک مقصد ۳:** په ملي کچه به د روغتیایي سیستم پیاوړتیا او کاري شریکانو همغږي وده ومومي چې د ټولو برخو لکه خدمتونو، انسجام، او مدیریت په ښه والي سره به د روغتیایي سېستم مؤثریت او مثمریت یقیني کړي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د اسلامي امارت د موسساتو طرزالعمل سره سم د غیر دولتي مؤسسو، نړیوالو همکارانو، تمویلوونکو او سازمانونو د کارونو، مسئولیتونو او وظایفو تنظیمول.
- د عامې روغتیا وزارت لخوا په نړیوالو روغتیایي کنفرانسونو، غونډو او مجالسو کې د افغانستان د روغتیایي برخې نمایندګي کول، په داسې حال کې چې نړیوال همکاران به د خپل صلاحیت په حدودو کې، له عامې روغتیا وزارت سره تر همغږۍ وروسته، د وضعیت وضاحت کوي.
- د روغتیایي خدمتونو د تجدید او تطبیق لپاره اړینه دادخواهي ترسره کول چې د شته ستونزو د حل لپاره اغیزمن ګامونه پورته شي.
- د کورنیو او بهرنیو موسسو، او ملګرو ملتونو څانګو لخوا د روغتیایي ارقامو، معلوماتو، څېړنو او راپورونو خپرول به یوازې د عامې روغتیا وزارت په اجازې سره ممکن وي، او دې لپاره به یو میکانېزم رامنځته شي.
- د عامې روغتیا وزارت،موسسو او تمویلوونکو ترمنځ په ولایتي او مرکزي کچه د همغږۍ میکانیزمونو پیاوړتیا.
- د عامې روغتیا وزارت د بېلابېلو برخو، او د تمویلوونکو او ملي او نړیوالو مؤسسو د معلوماتو لپاره د معلوماتي سیستم پراختیا او آنلاین کولو ته لومړیتوب ورکول.
- له ملي او نړیوالو شریکانو سره د درملو او خوړو برخو د همکاریو او روابطو ښه والی او تقویت.

**ستراتیژیک مقصد ۴:** د عامې روغتیا وزارت د پروژو په جوړښت، پراختیا او تطبیق کې به د ټولنې دودونو او اسلامي احکامو ته د درناوي او تطبیق کچه یقیني وي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د پروژو او برنامو په جوړولو کې د روغتیایي شریکانو، ملي او امارتي بنسټونو ګډون یقیني کول، په داسې ډول چې د عدالت اصول به په پام کې نیول شوي وي او ټولې اړتیاوې به په عادلانه توګه پوره کېږي.
- د نوښتونو لپاره مناسب شرایط برابرول او د هغو پایلې له شریکانو سره شریکول؛ تر څو د روغتیایي سیستم د دوامداره پرمختګ او ښه والي زمینه برابره شي.

- د روغتیایي خدمتونو هغه نوې قدمې، پروژې، طرحې او ماډلونه چې د عامې روغتیا وزارت له پالیسی سره سمون نه لري؛ باید له تطبیق څخه منع او د وزارت له اهدافو، معیارونو او پالیسی سره سم ورته میکانېزمونه جوړ شي.
- د عامې روغتیا وزارت او موسساتو ترمنځ د پروژو د تفاهمنامو دقیقه ارزونه او نهایي تایید ترلاسه کول؛ ترڅو په شفاف او منظم ډول همکاري ترسره شي.

**ستراتیژیک مقصد ۵:** د ملي او نړیوالو شریکانو ملاتړ به په لوړه کچه ډاډمن شي ترڅو په پروژو، برنامو، څارنو او ارزونو کې اړین ګامونه واخېستل شي او د روغتیایي سیستم د ښه والي لپاره اغیزمنتوب لوړ شي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- په روغتیایي سکتور کې د بهرنیو کسانو د دندو ترسره کولو لپاره د یو داسې شفاف میکانیزم جوړول چی په کی د عامې روغتیا وزارت موافقه اړینه وي.
- د نړیوالو همکارانو، ملګرو ملتونو او غیر دولتي موسسو د روغتیایي فعالیتونو د کیفیت، موثریت، مثمریت، نظارت، حساب ورکونې او روڼتیا په برخه کې به په مختلفو سطحو موثر او همغږې میکانیزمونه رامنځته شي ترڅو د روغتیایي منابعو د تضاعف او ناسم ویش مخنیوی وشي.
- د عامې روغتیا وزارت به د ملي او نړیوالو کاري شریکانو د اجرآتو لپاره د څارنې او ارزونې چوکاټ جوړ او پلي کړي، چې د مداخلو اغیزمنتوب، ګټورتوب، خوندیتوب او پایښت به یې په منظمه توګه ارزول کېږي.
- په ولایتي او مرکزي کچه به د موسساتو د پروژو ارزونه او نظارت د اړوندو تفاهمنامو پر بنسټ په ګډه او همغږې توګه ترسره شي ترڅو د پروژو د فعالیتونو شفافیت او کیفیت تضمین شي.

**ستراتیژیک مقصد ٦:** د روغتیا په برخه کې به د ملګرو ملتونو مختلف سازمانونه په خپلو اړوندو کاري ساحو کې په فعاله او همغږې توګه ښکېل شي ترڅو د روغتیایي خدمتونو کیفیت او اغیزمنتوب لوړ شي.

**ستراتیژیکې مداخلې:**

- د ملګرو ملتونو مرستو او منابعو د اغیزمن مدیریت او همغږی د ښه والي لپاره باید د شته میکانیزمونو تقویت او پراختیا رامنځته شي.
- د منابعو او پروژو په ډیزاین او پلان جوړونې کې به د عامې روغتیا وزارت او د ملګرو ملتونو اړوندو سازمانونو ترمنځ قوي او دوامداره همکاري او همغږې رامنځته شي.

- د ملګرو ملتونو ټولې اړونده اداري به خپل روغتيايي فعاليتونه د افغانستان د روغتيا ملي پاليسۍ، تګلارو، ستراتيژيکو پلانونو او ملي اړتياوو او لومړيتوبونو سره په مطابقت کې طرحه او عملي کوي.

**ستراتيژيک مقصد ۷:** د عامې روغتيا وزارت به د نورو کاري او سکتوري ادارو سره همغږي او ګډې هڅې پياوړې کړي، ترڅو د ټولنې د روغتيايي خدمتونو کيفيت لوړ او لاسرسی يې پراخ شي.

**ستراتيژيکې مداخلې:**

- د عامې روغتيا وزارت په کچه د سکتوري ادارو د همغږۍ د ميکانيزم پراختيا.
- د سکتوري ادارو له فعال شتون څخه د ټولنې د روغتيا د ښه والي لپاره موثره ګټه اخيستل.

# 7 دروغتيايي تګلارې تمويل او سرچينې

## عموميات

د افغانستان روغتيايي تګلاره تر ډېره پر هغو لګښتونو ولاړه ده چې خلک يې له خپل جيب څخه ورکوي، چې دا لګښتونه شاوخوا (۷۷٪) جوړوي او د (Out-of-Pocket (OOPپه نوم يادېږي. همدارنګه دا تګلاره د مهمو نړيوالو مرسته کوونکو لکه (نړيوال بانک، اسيايي پراختيايي بانک، او ملګرو ملتونو پر مرستو) او د حکومت پر مصارفو هم متکي ده. د حکومت لګښتونه دا مهال لږ دي، خو تمه ده چې په راتلونکي کې به زيات شي.

## 7.1 د اغيزمنتيا او حساب ورکونې ميکانيزمونه

عامې روغتيا وزارت د ناروغانو د پاملرنو په وړاندې دهيواد په کچه دخپلو تصميمونو مسوليت منونکې امارتي ارګان دي او خپل روغتيايي شريکان هم په دې برخه کې خپلو مسوليتونو ته رابولي، او ضمنا په دې برخه کې د حساب ورکونې ټولو معيارونو لکه د روغتيايي شريکانو سره په تصميمونو کې مشوره او د اړتيا په صورت کې دخيلولو ته ژمن دی؛ د کړنو اندازه کول او ارزول، له اجراتو او نتايجو څخه اړونده شريکان خبرول او د اصلاحاتو لپاره د فيډبک اخيستلو او ورکولو يو ميکانيزم رامنځ ته کول هم په کې شامل دي. همدارنګه په دې برخه کې عامې روغتيا وزارت له ټولو شريکانو غواړي چې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو اغيزمنتيا، حساب ورکونې او شفافيت ته ژمن پاتې شي.

## 7.2 له تمويلوونکو بنسټونو سره همکاري

عامې روغتيا سکتور لپاره د تمويلوونکو او ټولنيزو شريکانو سره همکارې او مشارکت په پام کې نيول يوه ضروري او ستراتيژيکه اړتيا ده. د روغتيا ملي پاليسۍ له مخې بايد د مالي منابعو څخه په شفاف، عادلانه او مسؤلانه ډول ګټه

واخېستل شي. د افغانستان د روغتيا ملي تګلاره د عامې روغتيا وزارت او روغتيايي سېستم لپاره د يوه لارښود په توګه اجرايوی سند دي، ترڅو د روغتيايي خدمتونو کيفيت، وسعت، مؤثريت، او مثمريت په ټول هېواد کې لوړ کړای شي. د دې تګلارې موخه دا ده چې په ملي او نړيواله کچه اعتماد او دوامداره همغږي رامنځ ته کړي. همداراز د تمويلوونکو اغيزمن مديريت، د ملي روغتيايي لومړيتوبو سره همغږي، او د څارنې شفاف او روښان ميکانيزمونه او تګلارې دا تګلاره د پام وړ ګرځوي. د روغتيايي خدمتونو په ټولو پروګرامونو کې د کيفيت، عدالت، او روغتيايي خدمتونو ته د ټولو خلکو لاسرسی د يو اصل په توګه معرفوي کوي، د ټولنې اسلامي باورونو، دودونو، او کلتوري ارزښتونو ته درناوی يوازې يو شعار نه، بلکې يو عملي اصل دی، چې د پروګرامونو له طرحې او پلي کېدو څخه نيولې تر څارنې او ارزونې پورې بايد په پام کې ونيول شي ترڅو دشريکو لورو ښکېلتيا مؤثره ثابته شي.

## 7.3 د پلي کولو په وړاندې احتمالي خطرونه

په لاندې ورکړل شوي جدول کې ټول هغه بنسټيز احتمالي خطرونه شته، چې د دې روغتيايي تګلارې په تطبيق کې د يادولو وړ دي او د دغو خطرونو کمولو لپاره ځينې وړانديز شوې حل لارې هم ښودل شوې دي:

| احتمالي خطرونه: | د خطرونو د مديريت تګلارې |
|---|---|
| 1. -دمتمرکزې بريښنايي حکومتولی نشتون، چې له امله يې د شته ارقامو څخه په پوره او موثر ډول تصميم نيولو کې ستونزې رامنځته کيږي. | 1. -د روغتيا اړوند معلوماتو د راټولولو، تحليل، يوځای کولو، شريکولو منظم بهير رامنځته کول او له همدغو ارقامو څخه په تصميم نيونه کی ګټه اخيستل. |
| 2. -د روغتيا سيستم د مسلکي او مديريتي ظرفيتونو کموالي. | 2. -د مسلکي او مديريتي ظرفيتونو د ښه والي لپاره د لازمو برنامو تطبيق او تعقيب. |
| 3. په ليرې پرتو سيمو کې دمسلکي او متخصصو کارکوونکو کموالي | 3. د ليرو پرتو سيمو لپاره د مسلکي او متخصصو کارمندانو روزنه، د جذب زمينه برابرول او موثر تشويقي ميکانيزم معرفي کول. |
| 4. د ملي بوديجې لږوالي او په ملی بودجه کې د روغتيايي سکتور لپاره د اسلامي امارت لږه ونډه (سلنه) | 4. د يو ځواب ويونکي او پاينبت وړ ملي روغتيايي سيستم لپاره د مالي سرچينو لاس ته راوړلو په خاطر د موثرو او مثمرو تګلارو انکشاف او تطبيق. |
| 5. له شته روغتيايي خدمتونو څخه د ټولنې د ګټې اخيستنې او باور کموالی | 5. د عامه پوهاوي له لارې د روغتيايي خدمتونو په اړه د ټولنې حمايت لاس ته راوړل، دموثرو اومثمرو طرحو د په تطبيق سره د شته خدمتونو د کيفيت او لاسرسي د ښه کېدو له لارې د ټولنې اعتبار لوړول. |

| | |
|---|---|
| 6. روغتوني خدمتونو ته د ټولنې د لاسرسي کموالی | 6. – د ولسواليو په کچه د روغتوني خدمتونو پراختيا او ورته د لاسرسي زياتوالې. |
| 7. د درملو، مصرفي او غذايي توکو د کيفيت ستونزې چې د ټولنې په روغتيايي حالت منفي اغيزه لري. | 7. په ملي کچه د باکيفيته درملو او غذايي توکو د برابرولو له لارې د ټولنې اړتيا ته ځواب ويل. |
| 8. د نړيوالو او ملي مؤسسو او ادارو تر منځ د همغږۍ کموالی. د ټولنې، روغتيايي سيستم او شفافيت د لومړيتوبونو په اساس د پروژو نه تطبيق. | 8. د نړيوالو او ملي مؤسسو لپاره د يو تفصيلي طرز العمل انکشاف، د ټولنې او عامې روغتيا وزارت د لومړيتوبونو په اساس د پروژو انکشاف او تطبيق او د اجرآتو څخه موثر نظارت |
| 9. د ۲۰۲۷ کال لپاره په روغتيايي سکتور کې د نړيوالو ډونرانو او تمويلوونکو د مالي ملاتړ/بوديجې کميدل. او د ۲۰۲۸ کال لپاره دبوديجی نشتون (تمويل په ټپه دريدل) | 9. د امارت لخوا د روغتياي سکتور تمويل؛<br>**9.1** د په ځان بساينې (خودکفايی) سيستم رامنځته کول؛<br>**9.2** عامه اوخصوصي مشارکت رامنځته کول؛<br>**9.3** د کانونو (معدنونو) يوه برخه د روغتيايي سکتور تمويل ته تخصيصول؛ او<br>**9.4** د فيس لايحې تطبيقول ( روغتيايی خدمتونو د ترلاسه کولو په صورت کې). |

**په روغتیایي سیستم کې د دغه تګلارې تطبیق لپاره لاندې مهمې فرضیې (احتمالات) په نظر کې نیول شوي دي:**

1. د اسلامي امارت د اړوندو ادارو لخوا د روغتیایي سیستم مالي حمایت او د نویو پالیسیو او طرزالعملونو له تطبیق څخه پوره حمایت؛
2. د نړیوالې ټولنې لخوا د موجودو او نورو انکشافي پروژو د تمویل لپاره د مالي حمایت شتون، او د ښې همغږۍ او شفاف میکانیزم له لارې د پروژو تطبیق؛
3. په ملي کچه د ملي او نورو بهرنیو پانګوالو د علاقه مندۍ زیاتول او هڅول او د هیواد په بعضې ملي پروژو کې پراخه ونډه اخېستل؛
4. د ملي پالیسیو په انکشاف اوتطبیق کې د ټولنې مثبت حمایت او ګډون

# 8 نظارت او ارزیابي

څارنه او ارزیابي د ښې حکومتولی له بنسټیزو رکنونو څخه ده، چې د مدیریتي وسیلې په توګه د حکومتولی د ښه والي او موخو ته د رسیدو لپاره کارول کېږي څو د قناعت وړ پایلې رامنځته شي. لکه څنګه چې حکومتولي سرچینو ته اړتیا لري، معیاري څارنې او ارزونې ته هم اړتیا لري. د څارنې او ارزونې د اغېزمن سیستم له شتون پرته د موخو تحقق له ستونزو سره مخ کېږي او مور نه شو کولی له سرچینو څخه سمه ګټه واخلو. څکه چې معمولا وړاندوینې او عملیاتي برنامې د سلنې په حساب له تیروتنو ډک وي او د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره یواځینۍ چاره څارنه او ارزونه ده. د څارنې او ارزونې په مرسته کولی شو د موخو د ترلاسه کولو او د فعالیتونو تر سره کولو په لارو چارو پوه شو او بیایې د تعقیب او اصلاح کولو وړتیا پیداکړو . څارنه او ارزونه ددې تضمین کوي چې سرچینې په خپل وخت د خدمتونو او موثر او مثمر تطبیق لپاره استعمال شوي دي. د اوس لپاره د عامې روغتیا وزارت په دې برخه کې د بودجې او متخصصو تخنیکي اشخاصو له کمښت سره مخ دی، دغې برخې ته باید جدي توجه وشي او شته تشه باید ډکه او د روغتیایی خدمتونو په څارنه او ارزونه کې د عامې روغتیا وزارت رول غښتلی شي.

## 8.1 دپایلو دڅارنې او اروزنې چوکاټ

لاندې جدول کې د دې ستراتیژۍ اړوند ستراتیژیکې ساحې، موخې، مقصدونه او د هغوی د اندازه کولو شاخصونه وړاندیز شوي دي. دغه وړاندیز شوي شاخصونه دا شوني کوي چې د روغتیا ملي ستراتیژۍ د تعین شویو موخو او مقصدونو اړوند پرمختګ د کلونو په تیریدو سره په منظم ډول وارزوو او ویې څارو:

| گڼه | ستراتیژیکه برخه | شاخصونه | فعلي حالت | متوقع حالت | د تائید سرچینه |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | **د روغتیایي سیستم حکومتولي او رهبري:** | | | | |
| 1 | **موخه:** د مؤثرې همغږۍ له لارې له اړوندو سکټورونو، ملي او نړیوالو شریکانو، خصوصي سکټور او ټولنو سره د عامې روغتیا وزارت د رهبرۍ او حکومتولي پیاوړتیا؛ تر څو خلک عادلانه او باکیفیته روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی ولري، د اسلامي احکامو سره سم د شفافیت او ځواب وینې کچه لوړه شي او د هېواد په کچه د خلکو په روغتیا کې مثبت بدلون راشي. | | | | |
| 1.1 | د عامې روغتیا وزارت په ټولو کچو کې د ځواب ویوونکې رهبرۍ او حکومتولۍ پیاوړتیا، د مدیرانو ظرفیت لوړونه، د مؤثرو نظارتي جوړښتونو او واحد راپور ورکولو سیستم د ښه والي لپاره الکترونیکې مدیریتي سیستم انکشاف او جوړول | د عامې روغتیا وزارت د بریښنایي سیستمونو شمیر | 22 عایداتي سیستمونه، ۲۷ مدیریتي سیستمونه | د ټول وزارت په کچه د یو واحد او جامع (EHR) بریښنایي سیستم ایجاد | عامې روغتیا وزارت ټکنالوژۍ ریاست |
| 1.2 | د عدالت تأمین او د ټولنې باور لپاره په روغتیایي نظام کې د سیاسي مداخلو او فساد کمول، شفاف ځواب ویونکی نظام رامنځته کول او د قوانینو او مقرراتو تطبیق. | د رهبرۍ او حکومتولۍ په برخه کې د روزل شویو مدیرانو او کارکوونکو سلنه | د مدیرانو ۸۷ بستونه ۱، ۲ او۳ د عامې روغتیا وزارت | د عامې روغتیا وزارت ۲ او ۳ بستونه | ظرفیت لوړوني ریاست |
| 1.3 | د نورو پالیسیو سره د کیفیت او عامه لاسرسي د ښه‌والي لپاره، د روغتیایي خدمتونو معیاري کول، او په محرومو سیمو کې د پوښښ پراخول او د خدمتونو ادغام. | د لومړنیو روغتیایي خدمتونو وړاندې کولو په پار، د تر پوښښ لاندې ساحو سلنه | 67% | 90% | د روغتیایی معلوماتو مدیریت سیستم |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 1.4 | باکیفیته روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي زیاتوالي لپاره د خصوصي سکتور مشارکت او پراختیا. | دعامه او خصوصی مشارکت دپلی شویو پروژو ( لویو،منځنیو اوکوچنیو) شمیر | یوه (۱) لویه پروژه تکمیل شوې ، ۳ پروژې د داوطلبی په جریان کې | یوه (۱) لویه پروژه، ۱۰ منځنی پروژې او ۱۰ کوچنی پروژې | د عامه او خصوصي مشارکت ریاست |
| 1.5 | د تعلیمي او تحقیقي مرکزونو د رامنځته کولو او دوامداره زده کړو له لارې د عامې روغتیا وزارت د کارکوونکو او مدیرانو لپاره د ظرفیت لوړونې برنامو برابرول او د مهارتونو او پوهې پراختیا. | د جوړو شویو تعلیمي مرکزونو شمیر | دوه(۲) تعلیمي مرکزونه | اوه(۷) تعلیمي مرکزونه | |
| | | د جوړو شویو څیړنیزو مرکزونو شمیر | کوم معیاری څیړنیز مرکز شتون نلري | دمرکز په ګډون په زونونو کې د ۷ څیړنیزو مرکزونو جوړول | عامې روغتیا ملي انستیوت |
| 2 | **دکارکوونکو چارې** | | | | |
| 2 | **موخه:** متدین، ژمن، وړ، هڅاند، مسؤولیت منونکي، متوازن، کیفیت لرونکي، پایدار، د خلکو د پرداخت/ تأدیی وړ، روغتیا سیستم ته په ټولو سطحو کې ملاتړ کونکي او د نړیوال روغتیایي پوښښ موخو ته د رسیدو او د (۱۴۰۴-۱۴۵۱) ملي روغتیایي پالیسی د عمومي موخو سره سم پلان جوړونه، ګمارنه، انکشاف/وده ورکول او ساتنه ، چې د اقتصادي پیاوړتیا، ټولنیزې هوساینې، ملي او نړیوال روغتیایي خوندیتوب لامل وګرځي. | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2.1 | د خلکو د روغتیایي اړتیاوو، د ناروغیو ځانګړتیاو او زیانمنو قشرونو ته په پام سره، په ځانګړي ډول هغو سیمو ته چې مسلکي او متخصص کارکوونکي پکې ډېر کم دي، ، د ۱۰۰۰۰ نفوس لپاره د روغتیایي کارکوونکو پوښښ کچې په پام کې نیولو سره د روغتیایي کارکوونکو لپاره منظم او سېستماټیک پلان جوړول، ګمارنه،وده، روزنه، ساتنه او همغږي رامنځته کول. | - | د نړېوالو منل شویو معیارونو په اساس د هیواد په کچه د روغتیایي کارکوونکو د پوښښ تناسب او اندازه | 10/10000 | 13/100000 | کارکوونکو چارو لوی ریاست |
| 2.3 | د تخصص بشپړتیا پروګرام د ښوونیز کیفیت لوړول، پیاوړي کول او پراخول، په ځانګړي ډول په هغو رشتو کې چې د ټولنې واقعي روغتیایي اړتیاو ته ځواب وایي، تر څو دا پروګرام د سیمه‌ییزو او نړیوالو معیارونو سره برابر شي او خلکو ته تخصصي او فوق تخصصي روغتیایي خدمتونه په عملي ډول برابر کړي. | - | د مسلکی-تخصصي او فوق تخصصي او د حمایوې کارکوونکو د وړتیا لوړونې په موخه د نوو جوړو شوو او بیا کتل شویو نصابونو / شمېر | 36 | 46 | دتخصص بشپړتیا ریاست اسناد او راپورنه |
| | | - | د مسلکي-تخصصي، فوق تخصصي او د حمایوي کارکوونکو د وړتیا لوړونې په موخه د نوو جوړو شوو ډیپارتمنتونو شمېر | 2 | 8 | دتخصص بشپړتیا ریاست اسناد او راپورونه |
| 3 | **د روغتیا مالي تمویل:** | | | | | |
| 3 | **موخه:** د روغتیایي سکتور د تمویل پروسې اصلاح، د پیرلو ځواک او عدالت ته په پام سره، معیاري او ارزانه روغتیایي خدمتونو ته د خلکو لاسرسی، د موجوده سرچینو مؤثره کارونه، او د اسلامي اصولو او معیارونو پر بنسټ د مالي حمایتي میکانیزمونو چمتو کول | | | | | |
| 3.1 | د روغتیا لپاره د داخلي تمویلي منابعو فعالول | | په ملي بودیجه کی د روغتیا سکتور لپاره د اسلامي امارت د تخصیص سلنه | %1 | %5 | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | په روغتیايي لګښتونو کې په خلکو د لګښتونو د بار (*Out of Pocket*) ونډې د اوسني حالت (*75*) سلنه کموالي | %77 | %75 | د روغتیا د تمویل او اقتصاد ریاست |
| 3.2 | د روغتیا سکتور کې د عامه او خصوصي مشارکت د پیاوړتیا او خصوصي پانګې اچونې هڅول | دعامه-خصوصي مشارکت د منظور او پلي شویو مشارکتونو شمیر | 1 | 10 | د تمویل او اقتصاد ریاست/د عامه او خصوصی مشارکت ریاست |
| | | د لګښتونو د مدیریت معلوماتي سیستم فعال ساتل | 1 نیمه فعال دي | 1 مکمل فعال ساتل | د تمویل او اقتصاد ریاست |
| 4 | **د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول:** | | | | |
| **4.1** | **د وقایوي او ارتقایي روغتیایي خدمتونو وړاندې کول:** | | | | |
| 4.1 | **موخه:** د ساري، غیر ساري، چاپیریال اړونده ناوړه حالاتو او دندې له امله را مینځ ته کېدونکو ناروغیو، معلولیتونو او مړینو راټیټول . | | | | |
| 4.1.1 | د ساري ناروغیو د مخنیوي او کنټرول او د پولیو د جرړو ختمولو په موخه د انتان د مخنیوي او کنټرول تدبیرونو تطبیق غځول، د واکسینونو پوښښ لوړول او پیاوړی کول. | - دپولیو فمي واکسین پوښښ له اوسني حالت په ۲۵سلنه لوړوالی | 63% | 95% | NEPI د کتلوي معافیت امریت |
| | | - دټولو روټین واکسینونو د پوښښ کچه له اوسني حالت څخه ۱۵سلنه لوړوالی | 69% | 85% | NEPI د کتلوي معافیت امریت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 4.1.2 | د تغذي حالت د ښه کولو، د خوارځواکۍ د مخنيوي او کنټرول په موخه د روغتيايي خدمتونو پياوړي کول او د اړونده خدمتونو د پياوړتيا لپاره ملاتړ رامينځ ته کول | له اوسني حالت څخه د حادې خوارځواکۍ د کچې کمول | 9.5% | 7.5% | د NNS-2013 عامه تغذي امريت |
| 4.2 | **معالجوي روغتيايي خدمتونه:** | | | | |
| 4.2 | **موخه:** د خصوصي سکتور په ګډون په ټولو روغتيايي کچو او برخو کې د روغتيايي او تغذي خدمتونو شتون، لاسرسی، د کارونې او کيفيت پايښت، پراختيا او ښه والی. | | | | |
| 4.2.1 | د اړوندو څانګو ملاتړ، کيفيت لوړول، تقويت، مشري، همدا راز په روغتيايي مرکزونو کې د طبابت اخلاق، د ناروغ محوری تقويت، له روغتيايي خدمتونو څخه د ټوليز رضايت د کچې ښه والی. | د معالجوي طب په اړوندو ډيپارټمنټونو کې د پلان او د طبي لارښودونو او پرټوکولونو موجوديت او تعداد | 58 | 60 | د معالجوي طب عمومي رياست اسناد |
| | | د ثالثي روغتيايي خدمتونو د مجموعې (Tertiary Package of Hospital Services – TPHS موجوديت | شتون نلري | 1TPH | د معالجوي طب عمومي رياست اسناد او په نوموړي رياست کې د 1TPH موجوديت |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 4.2.2 | د غوره معالجوي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د روغتيا يی مرکزونو/ځانګو رامنځته کول | د ولسوالی په کچه د روغتونونو ايجاد او ارزونې د سلنې زياتوالی | 94 | 318 | HMIS او په ولسواليو کې د DGH شمېر |
| 4.2.3 | د روغتيايي خدمتونو د ښه والي په برخه کې د معاصرې ټکنالوژی کارول | د هغو روغتونونو شمير چې برېښنايي طبي ريکارډ لري | شتون نلری | په ۵ روغتونونو کې | په روغتونونو کې موجوديت/د معالجوي طب عموي رياست |
| | | په روغتونونو کې د تشعشعاتو د خطر د مخنيوي وسايلو موجوديت | محدود وسايل شتون لري | دتشعشعاتو د مخنيوي کافي وسايلو موجوديت | په روغتونو کې موجوديت |
| 5 | **دروغتيايی معلوماتو سيستم** | | | | |
| 5 | **موخه:** د شواهدو پر بنسټ د تصميم نيونې د دود بنسټيزول، چې د دقيقو، نويو، باوري او منظمو معلوماتو او شواهدو په مرسته د روغتيايي سيستم په ټولو کچو کې پلي شي. | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 5.1 | د روغتیایي معلوماتي سیستم ټولې برخې ډیجیټلي سیستم ته اړول او د بریښنایي روغتیایي سیستمونو (EHR, EMR) رامنځته کول او ادغام تر څو له دې لارې د معلوماتو دقت، لاسرسی او تحلیلي وړتیا لوړه شي او د شواهدو پر بنسټ پریکړې پیاوړې شي. | دهغو روغتیایي مرکزونو سلنه چې ډیجیټل راپور ورکوي. | شتون نلرې | په ټولو روغتونونو کې د 100%زیږونونو ثبت | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |
| | | د زیږونونو ډیجیټل ثبت سلنه. | په 2.5% روغتیایي مرکزونو کې مړینه ثبتیږي. | په ۷۰٪ مرکزونو کی د مړینی ثبت کول | څارنې او پلټنې لوی HMISریاست/ |
| | | د مړینو علتونو د ثبت او راپور ورکولو سلنه. | په ۲.۵ فیصده روغتیایي مرکزونو کې ثبتیږي. | په ۷۰٪ مراکزو کې د مړینو علتونو ثبتول | څارنې او پلټنې لوی HMISریاست/ |
| | | د هغو کلنیو/دوریي کتنو شمیر چې د روغتیایي سیستم د (پروګرامونو او پروژو) د پرمختګ او فعالیتونو لپاره ترسره شوي دي | یو ځل کتل شوي | په کال کې لږ تر لږه یو ځل | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |
| 5.2 | د روغتیایي معلوماتي سیستم پیاوړتیا، تر څو د روغتیایي معلوماتو د راټولولو، تحلیل، شریکولو او کارونې بهیر منظم شي او د پریکړو ملاتړ وکړي. | د روټین راپور ورکولو لپاره ملي تګلارې ته له سره کتنه او ترتیبول | شتون نلرې | دتګلارې ترتیب او تکمیلول. | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | د روغتیایي راپورونو د بشپړتیا سلنه چې په ټاکلي وخت یې ټول مربوطه راپورونه ( MIAR, MAAR, CAAC FSR, HMIR,TC-HMIR, HSR, اونور) ورکړي وي. | ۱۰٪ روغتیایي مرکزونه ټول مربوطه راپورونه په وخت ورکوي. | ۹۵٪ روغتیایي مرکزونه باید ټول راپورونه ورکړي | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |
| | | د هغو روغتیایي مرکزونو شمیر چې د ارقامو کیفیت یې ارزول شوی دی. | د ۲٪ روغتیایي مرکزونو د ارقامو کیفیت ارزول شوی دی. | ۵۰٪ روغتیایي مرکزونو د ارقامو کیفیت کتل | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |
| 5.3 | د څېړنو او ارزونې د ظرفیت بنسټیزول، تر څو د روغتیایي پروګرامونو او خدمتونو د اغیز معلومولو لپاره په ښه کیفیت څېړنې، مطالعات او ارزونې ترسره شی. | د ترسره شوو معیاري څېړنو او مطالعاتو شمېر چې په تیر کال کې ترسره شوي دي. | ندی ترسره شوي | لږ تر لږه دوه څېړنې ترسره کول. | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |
| | | د هغو روغتیایي پروګرامونو شمیر چې د اغیز ارزونه یې ترسره شوې وي. | د یو پروګرام ارزونه ترسره شوې. | د دوه پروګرامونو ارزونه په یوکال کې ترسره کول. | څارنې او پلټنې لوی ریاست/HMIS |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | د شواهدو پر بنسټ د اصلاح شوو يا طرحه شوو پروګرامونو شمېر چې د څېړنو او ارزونو د پايلو له مخې رامنځته شوي وي. | شواهد نه شته | ټولو روغتيايي پروګرامونو کې د شواهدو په اساس تغير راوستل. | |
| 5.4 | د روغتيايي معلوماتو د حکومتولی پياوړتيا، تر څو ټول راټول شوي معلومات د عامې روغتيا وزارت د لاربښودونو له مخې معياري شي او يوازې د رسمي تصويب وروسته خپاره شي. | د ارقامو او معلوماتو د لاسرسي؛ تبادلې؛ مديريت او شريکولو لپاره د قانوني تګلارې شتون. | روغتيايي معلوماتو ته د لاسرسي او تبادلې، تګلاره وجود نلری | روغتيايي معلوماتو ته د لاسرسي، تبادلې او شريکولو لپاره د کاري تګلارې ترتيبول. | څارنې او پلټنې لوی HMIS/رياست |
| | | د روغتيايي پروګرامونو او پروژو لپاره د څارنيزې تګلارې جوړول. | تګلاره شتون نلري | د څارنيزې تګلارې جوړول . | څارنې او پلټنې لوی HMIS/رياست |
| | | د شواهدو پر بنسټ د اصلاح شوو يا طرحه شوو پروګرامونو شمېر چې د څېړنو او ارزونو د پايلو له مخې رامنځته شوي وي. | شواهد شتون نلري | ټولو روغتيايي پروګرامونو کی د شواهدو په اساس تغير راوستل. | څارنې او پلټنې لوی HMIS/رياست |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 6 | **خواړه، درمل، او روغتیایی محصولات:** | | | | |
| 6 | **موخه:** د خوړو، درملو، روغتیایي محصولاتو او خدمتونو تنظیم، معیاري کول او بنسټیزه پراختیا | | | | |
| 6.1 | د مارکیټ کنټرول او د غذا او درملو تاسیساتو فعالیتونو څخه موثره څارنه، د غیر معیاري درملو څخه ګټه اخېستنه ممکن د درملنې د ناکامۍ، د مرض د وخامت او مقاومت او بعضا د مرګ سبب وګرځي. | د هغو غذايي او دوايي تاسیساتو سلنه چې له قوانینو او مقرراتو څخه پیروي کوي (٪) | د نظارت او بازرسي ډیټابیس تر انکشاف لاندې دی | 100% | دنظارت او بازرسی ډیټابیس څخه نظارتي راپورونه/د غذا او دوا معینیت |
| | | د هغو غذايي او دوايي محصولاتو سلنه چې په رسمي ډول هیواد ته داخلیږي. | د نظارت او بازرسی ډیټابیس تر انکشاف لاندې دی | 80% | دنظارت او بازرسی ډیټابیس نظارتي راپورونه/د غذا او دوا معینیت |
| 7 | **دمالي تمو يلوونکو اوکاري شریکانو ښکیلتیا:** | | | | |
| 7 | **موخه:** د همغږۍ او ملاتړ شفافې پروسې له لارې د تمویلوونکو، ملي او نړیوالو شریکانو مرستې ته وده او دوام ترلاسه کول تر څو د افغانستان ټولنې ته د دیني اصولو او ښو دودونو سره سم د هېواد په روغتیایي سېستم کې په اغېزمنه او ګټوره توګه معیاري خدمتونه وړاندې شي. | | | | |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| 7.1 | روغتیایي پروژې به په عامې روغتیا وزارت کې ثبتېږي او د تطبیق لپاره به د عامې روغتیا وزارت موافقه حتمي وي. | له سیمه ییزو او نړیوالو سازمانونو سره د همکارۍ رسمي تړونونو یا تفاهم لیکونو سلنه. | 90% | %100 | د عامې روغتیا وزارت، د نړیوالو اړیکو او مرستو همغږۍ ریاست |

**په هیواد کې د شته مهمو مرضونو د کچې کموالي او د روغتیا اړوند شاخصونو د ښه والي لپاره چې په لاندې جدول کې ذکر شوي؛ ټول روغتیايي سیستم به ددغو موخو لاسته راوړلو لپاره لازمې کړنې تر سره کړي:**

| شماره | شاخص | فعلي حالت | متوقع حالت | دتایید سرچینه |
|---|---|---|---|---|
| .1 | په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونونو کې د نویو زیږیدولو ماشومانو د مړینې کچه | 24 | 18 | MICS |
| .2 | په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونونو کې دیوکال څخه ښکته ماشومانو د مړینی کچه | 46 | 35 | MICS |
| .3 | په هرو ۱۰۰۰ ژوندیو زیږونونو کې تر پنځو کلونو ښکته ماشومانو د مړینې کچه | 55 | 40 | MICS |
| .4 | دراپورشویو میندو مړینه په هرو ۱۰۰۰۰۰ژوندیو زیږونونو کې | 196 (532) | 150 | HMIS/UNdata |
| .5 | د راپور شویو ساري ناروغیو شمیر | 25817095 | 50% | HMIS |
| .6 | د راپور شویو غیرساري ناروغیو شمیر | 16328077 | 35% | HMIS |
| .7 | د راپور شویو ماشومانو مصابیت | 23825582 | 50% | HMIS |
| .8 | د شرې واکسین د لومړي ډوز پوښښ | 73% | 95% | HMIS |
| .9 | د پنټا ۳ واکسین پوښښ | 80% | 90% | HMIS |
| .10 | په پنځه کیلومترۍ کې لومړنیو روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی | 67% | 80% | HMIS |

## 8.2 د تګلارې بیا کتنې میکانیزم

د روغتیا ملي تګلارې بیا کتنه به د انکشاف او تخنیکي کمیټې د سپارښتنې په اساس د لاندې جدول او قدمو په نظر کې نیولو سره اجرا کیږي:

.

| شماره | کړنې او فعالیتونه | وضاحت |
|---|---|---|
| .1 | دتګلارې اجرایوي پلان جوړول | تخنیکي کمیټه به یې وروسته جوړوي |
| .2 | کلنۍ ارزونه /هر دوکلونو کې ارزونه | لومړۍ ارزیابي به په هر دوکلونو کې او وروسته به هر کال بیا کتنه کیږي (دپلان مطابق به اجرات کیږي) |
| .3 | داړتیا او رهبرۍ دموافقې په صورت کې دتګلارې تعدیل | درهبرۍ دلارښوونې په اساس به اجرات کیږي |

# 9 ضمیمې

## 9.1 د روغتیایي سیستم نقشه

BPHS (FHHs, MHTs) Map



BPHS (BHCs, SHCs) Map




EPHS (DHs, PHs, SHs & RHs) Map




## 9.2 ستراتیژیک پلان

| ستراتیژیک هدف: | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| گڼه | ستراتیژیکه برخه: | ستراتیژیک مقصد | ستریتژیکې مداخلې | شاخصونه | تعین شوی وخت اوزمان | | | | | کاری شریکان | خطراوفرضیه |
| ۱ | حکومتولی او رهبری | ستراتیژیک مقصد ۱ | | | ۱ کال | ۲ کال | ۳ کال | ۴ کال | ۵ کال | | |
| 2 | | ستراتیژیک مقصد ۲ | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | |

## 9.3 د روغتیا وزارت تشکیلاتي ارګانوګرام

د عامې روغتیا وزارت تفصیلي تشکیلاتي ارګانوګرام په لاندې ډیاګرامونو کې ښودل شوی دی:



د اداري اومالي معينيت ارگانو گرام:



د پالیسی او روغتیا پراختیا معینیت ارگانو گرام:



د روغتيايي خدمتونو وړاندې کولو معينيت ارګانو ګرام:



د غذا او درملو معینیت ارګانو ګرام:




## 9.4 دتګلارې دتدوین کمیټوبشپړ نوملړ:

### د روغتیا ملي تګلارې د پراختیا او رهبرۍ کمیټې غړي:

د روغتیا ملی تګلارې دانکشاف درهبرې او تخنیکې کمیټو دغړو نومونه او وظیفوي موقفونه:

## درهبري کمېټې غړي:

| | | |
|---|---|---|
| .1 | ډاکټر سید رسول منګل | دپالیسی اوپلان لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .2 | شیخ الحدیث مولوي محمد طاهر حلیم | دمقام دفتر لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .3 | ډاکټر وحدت الکوزی، | دمعالجوطب لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .4 | ډاکټر فضل الهي علیزی | دولایاتو همغږۍ ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .5 | پوهندوی ډاکټر تاج ملوک صمیم | عامې روغتیا ملي انستیټوټ لوی ریس |
| .6 | ډاکټر نعیم الله ایوبي | درملو تنظیم او روغتیایي محصولاتو لوی ریس عامې روغتیا وزارت |
| .7 | ډاکټر عنایت الله عنایت، | دڅارنې او پلټنې لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .8 | عرفان الله کریمي | دکارکنانو چارو لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .9 | ډاکټر نثار احمد نیازی | دتخصص بشپړتیا لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .10 | رنځورمل ډاکټر احمد فرشید محمدي | داکاډمیک چارو دهمغږۍ ریس-عامې روغتیا وزارت |
| .11 | ډاکټر فقیر محمد زیار | دطبی شورۍ لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .12 | ډاکټر عبد الستار صحت | دبرنامو او پلان ګذاری ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .13 | مولوي محمد داود منصوري | دنړیوالو اړیکو، مرستو همغږۍ او انسجام ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .14 | ډاکټر زاهد الله رسولي | ارشد تخنیکی متخصص- دپالیسی او روغتیا انکشاف معینیت-عامې روغتیا وزارت |
| .15 | ډاکټر مبارک شاه مبارک | ارشد تخنیکي مشاور- دروغتیایي خدمتونو وړاندې کولو معینیت-عامې روغتیا وزارت |
| .16 | ډاکټر محمد عظیم زمریال کاکړ | دمقام ارشد تخنیکي مشاور- عامې روغتیا وزارت |
| .17 | ډاکټر حدیدالله ذاکري | دمقام تخنیکي مشاور- عامې روغتیا وزارت |
| .18 | خبیر رفیع | داداري او مالی معینیت مشاور- عامې روغتیا وزارت |
| .19 | عبدالهادي شرافت | حقوقي امر- عامې روغتیا وزارت |
| .20 | ډاکټر محمد نعیم آبي | |
| .21 | ډاکټر هدایت الله حمیدي | دپلان او راپور ارشد متخصص |
| .22 | سید ولي صافی | دروغتیا تمویل ارشد متخصص- عامې روغتیا وزارت |
| .23 | محمد ایمل قیامي | دپروپوزل او کانسپت نوټ انکشاف ارشد متخصص- عامې روغتیا وزارت |

## دتخنیکي کمېټې غړي:

| | | |
|---|---|---|
| .1 | ډاکټر سید رسول منګل | دپالیسی او پلان لوی ریس- عامې روغتیا وزارت |
| .2 | ډاکټر میرویس احمدزی | داقتصاد او روغتیا تمویل(HEFD) ریس - عامې روغتیا وزارت |
| .3 | ډاکټر کلیم الله نیازی | ستراتیژۍانکشاف او همغږی ملي مشاور (د WHO تخنیکي مرسته/ پالیسی اوپلان لوي ریاست ) عامې روغتیا وزارت |
| .4 | ډاکټر عبدالعظیم احمدزی | دافهام او تفهیم مسول (کتلوی معافیت ملی پروګرام) عامې روغتیا وزارت |
| .5 | ډاکټر رسول ګل ثمر، | دEMR مشاور- دڅارنې او پلټنې لوی ریاست- عامې روغتیا وزارت |
| .6 | ډاکټر شریف احمد حبیب احمدزی | دPHC ارشد متخصص- عامې روغتیا وزارت |
| .7 | ډاکټر وحیدالله مصلح | دنظارت او راپور ارشد متخصص- عامې روغتیا وزارت |
| .8 | ډاکټر سلطان الهام صافي | دستراتیژۍ انکشاف متخصص- پالیسی اوپلان لوی ریاست عامې روغتیا وزارت |
| .9 | ډاکټر عبد الله عربزاد | تخنیکی متخصص -دغذا او دوا معنیت عامې روغتیا وزارت |
| .10 | ډاکټر عبدالغني ابراهیمي | دروغتیا سیستم انکشاف تیم لیډر-WHO (HSD-Team Lead-WHO) |
| .11 | ډاکټر عتیق الله اکبري | Quality & Patient Safety Officer-WHO |
| .12 | ډاکټر میر نجم الدین هاشمي | Partnerships and External Relations officer-WHO |
| .13 | ډاکټر همایون صافی | Technical Officer (HSD)-WHO |
| .14 | ډاکټر محمدالله علیشنګی | دمعالجوی طب لوی ریاست ارشد تخنیکې مشاور- عامې روغتیا وزارت |
| .15 | ډاکټر محمد یوسف طیب | د OPHCD موسسې پروګرامونو ریس |
| .16 | مجیب الرحمن ماموندزی | دظرفیت لوړونې ریس-عامې روغتیا وزارت |
| .17 | مصطفی یفتلي | دروغتیا اقتصاد متخصص- عامې روغتیا وزارت |